أدع إلىٰ سَبِيل رَبِّكَ بالحكمة والمَوعظة الحَسَنة وَجَادلهُم بالتي هيَ أحسَن (الآيه)

دعوت

دتوحيد او جهاد مجله

١٤

دافغانستان دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة دافکارو خپرونکی

الشهيد الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)
ويلی وو:

زه وایم هر هغه نظام چه په افغانستان کی دجهاد دلیاری نه پرته دکودتاه، انتخاباتو او یا له الله تعالی نه دسرکشه قوتونو دسازش په نتیجه کی منځ ته راشی هغه به غیر اسلامی نظام وی.

استاد
نورمحمد
«مجیدی»
وویل

زه د حزب اسلامي غړی یم، حزب اسلامي مې تنظیم او امارت اسلامي مې حکومت دي، مګر زه له ټولونه اول، مسلمان یم او د یو مسلمان په صفت دا وایم چه پدي واقعه کي حزب حکمتیار پرغلګر واقع شوی دی چه الله تعالی پدی باندی شاهد او ګواه دی.

په افغانستان کی دحکومت دجوړ ولو حق نه له امریکا او نه له روس سره شته هغوی دا حق نلری چه دا فغانستان دمجاهد اولس دآینده سرنوشت دټاکلو نماینده کی دی وکړی.

وروڼو! موږ او تاسی جهاد کړی، قربانی مو ورکړی، خو ددی قربانی معنٰی به دانه وی چه زموږ قربانی دی دالله تعالی دحکم په مخکی خند وګرځی، قربانی خو موږ پدی خاطر ورکړی چه دالله حکم حاکم شی.

فرمان الهی

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی: (إنّ الله اشتری من المؤمنین أنفسهم و أموالهم بأنّ لهم الجنة یقاتلون فی سبیل الله فیقتلون ویقتلون وعداً علیه حقاً في التوراة والإنجیل والقرآن . ومن أوفی بعهده من الله فاستبشروا ببیعکم الذي بایعتم به وذلك هو الفوز العظیم) (التوبة /۱۱۱)

ترجمه : (هر آئینه خداوند از مسلمانان جان ومال شان را بعوض آنکه برای شان بهشت باشد خریده است که در راه خدا جنگ میکنند می کشند و کشته می شوند، وعده ای حقی است بر خدا ، در تورات، انجیل وقرآن، و کیست وفا کننده تر به عهد خویش از خدا پس شادمان باشید به معامله، که کردید به آن و این است پیروزی بزرگ) .

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين

سورة يوسف ۱۰۸

احمد شاه (Vahdat)
Ahmad Shah
A. K. P. O.

دامتیاز خاوند: دافغانستاند جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)

خپرؤنکی اداره: ددعوت او ارشاد رياست

دعوت

دتوحیداو جهاد مجله

۱٤ گڼه / د ۱٤۱۲ هـ ق دمحرم او صفری میاشتی

دهیئت تحریر تر نظارت لاندی

په پاکستان اونورو بهرنیو هیوادونو کی زمونږ نمایندګان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»

اسلام آباد: عفیف احمد

پیښور: غنی الله «مسلم»

لاهور: حماد شاکر

کراچی: چوهدری ظهور احمد

کوټه: عرفان منګل

مظفر آباد: بشیر قریشی

سعودی عرب: فیضان الله

امریکا: عبدالرحمن احمد

بریطانیا: منور علی

جرمنی: وائی - ایم حمیم

هالیند: عماد الدین بکری اسماعیل

ددی ګڼی مطالب

(عنوان) (مخ)

* سرمقاله ۱
* دشهید الشيخ جميل الرحمن وروستی وینا ٥
* اسلامی امارت او دهغه دجوړیدو ضرورت ۱٥
* په پیښور کی دپریس کانفرانس متن ۱۸
* تشکیلات اداری در مناطق آزاد ۲۲
* اسلامی امارت – شعر ۲٤
* شهیده ؟ – شعر ۲٥
* دوهابیت اصطلاح چا رامنځته کړه ۲٦
* هغه قوم چه هر څه لری خو اتحاد نلری ۲۸
* دا په کوم جرم ؟ ۳٥
* په کونړ کی د احتساب دڅانګی مرکه ۳۷
* په اروپا کی دافغانانو داسلامی ټولنی له خوا ۳۸
* راڅئ خپل شرعی مسئولیتونه تر سره کړئ ٤۱
* دکنړ اسلامی امارت دمطبوعاتو په هنداره کی ٤۳
* راغلی لیکونه ٤٥

داشتراك وجه:

په پاکستان کی

میاشتنی

ګڼون: ۱۰ کلداری

کلنی ګڼون: ۱۰۰ کلداری

په بهرنیو هیوادونوکی

میاشتنی ګڼون:

۲ امریکائی ډالره

کلنی ګڼون: ۱۰ ډالره

مکاتباتی پته: «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦۱٤ پښاور پاکستان

بانکی حساب: جماعة الد عوة الى القرآن والسنة – اکاونت نمبر ۱۹٤٦٥ – حبیب بینك کینت – صدر رود – پشاور.

الشيخ جميل الرحمن – اکاونت نمبر – ٥٥ – حبیب بینك – صدر–

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

قال الله تعالی: «یریدون لیطفئوا نورالله بأفواههم والله متم نوره ولو کره الکافرون» الایه (الصف/۸

دحق ددا عیانو شهادت دحق دبریالیتوب مخه نشی نیولای:

دا یو ښرګند حقیقت دی چه دانسان له پیدایښت سره سم دتاریخ په اوږدو کی دحق او باطل تر مینځ مبارزه روانه وه، روانه ده او روانه به وي، خو هغه نه بدلیدونکی حقیقت چه زمونږ دبحث وړدی، هغه دادی چه حق دتل لپاره سر لوړی، وياړلی، بریالی او دباطل پرځونکی او باطل دتل لپاره سر ټیټی، شرمیدلی، ناکام او ذهوق دی.

دکلام ربّی ټول قصص الله تعالی ددی لپاره ذکر کړی دی چه انسانان تريې عبرت واخلی او دخپلې لارې مشال ئی وګرځوی.

خود رب العزت حکمت دادی چه دحق له غلبی وروسته دحق پلویان له آزماینښتونو سره مخامخ شی، ورو ورو له خالص توحید سره دشیطان په نغوته شرک ګډ او باطل بیا اوج ته ورسیږی، رب العزت بیا دخپلو بندګانو دلار ښودنی لپاره بل نبی راولیږی، هغه بیا دحق په پلوی خپلی مبارزی ته دوام ورکړی تر څو چه حق برلاسی او باطل له پښو ولویږی، بیا نبي له دنیانه لاړ شی، پیروان ئی بیا له ابتلاأتو سره مخ او دحق او باطل دمبارزی ډګر بیا ګرم او په باطل کښ بیا ساه وغړیږی.

دمثال په توګه کله چه باطل اوج ته ورسیده، الله تعالی نوح علیه السلام په خالی لاس دوخت ځواکمن باطل مقابلی ته رواليږه، نیتجه دا شوه چه باطل نیست او نابود او حق استقرار وموند.

دځه مودی په تیریدو سره شیطان بیا خپل وسایل پکار واچول او دباطل ځواکمنی بیا اوج ته ورسیده او د «نمرود» په شکل ښکاره شوه، رب العزت دهغه دټکولو لپاره دحق داعی سیدنا ابراهیم علیه السلام راولیږه او دهغه دمبارزی او توکل په نیتجه کی د «نمرود» طاغوتی سلطنت ختم او د توحید لوا په رپیدو شوه.

حضرت ابراهیم که بی مثاله قربانی ورکړه، نو بی مثاله بری ئی وگټه، ځکه خو الله تعالی په خپل کلام ربّی کی هغه په یوازی ځان د امة په نوم وستایه او په تفصیلی توگه ئی ذکر ورته وکړ.

ځه موده وروسته شیطان بیا خپل جال خپور کړ او دځان لپاره ئی فرعون نائب وټاکه. دباطل پرست فرعون جاگیردارانه نظام دخپل ذاتی اقتدار او واکمنی دبقاءلپاره انسان وژنه پیل کړه او په خپل زعم ئی غوښتل چه دانسانیت نسل ختم کړی، خو دالله تعالی فیصله بله وه او دده دظالمانه او باطل نظام دړنگولو لپاره ئی **حضرت موسی او حضرت هارون علیهم السلام** مؤظف کړل. که څه هم چه الله تعالی فرعون ته یو څه وخت ورکړ، خو بالآخره ئی دخپل ظلم او غرور په دریاب کی لاهو او دآبد لپاره له نیستی سره مخامخ شو.

وروسته د زمانی په تیریدو سره باطل ورو ورو دکبر او غرور په نیلی بیا سپور او په قلقلو سر شو، خو دا ځل الله تعالی دباطل دځپلو او خپلو بندگانو ته دلار ښودنی لپاره داسی نبی مبعوث کړ چه دهغه پیدایښت او لوئیدل ټول له اعجاز نه ډک ؤ، یعنی دا چه الله تعالی **حضرت عیسی بن مریم علیه السلام** مبعوث کړ چه انسانانو ته سمه لار وښیئ او باطل وځپی، همداسی وشول چه باطل ذهوق او حق غالب شو، وروسته شیطان دباطل ددفاع لپاره بیا دخپل مکر اسباب پکار واچول او انسانان ئی تر دی حده ذلیل او د باطل پیروان کړل چه حتی ژوندی انسانان به ئی ښخول او د خالق پرستی پر ځای ئی مخلوق پرستی پیل کړه.

دا ځل الله تعالی دباطل دځپلو او دحق دقایمولو لپاره خپل وروستی **پیغبر خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم** مبعوث کړ، ده ته الله تعالی داسی قانون او داسی امت ورکړ چه تر قیامته به جاری او ثابت قدم وی.

دالله تعالی حکمت دی چه حق دتل لپاره غالب وی، خو د ابتلاء او آزمایښت لپاره کله داسی شی چه دظاهر بینو په نظر کمزوری او حتی معدوم معلومیږی. **دنبي علیه الصلوة والسلام** له رحلت نه وروسته منافقینو او دطواغیتو پیروانو داسی فکر وکړ چه دادی نور دحق نور مخ په خاموش کیدو دی، خو ډیر زر ئی ولیدل چه نه، دا دالله نور دی، دا نه خامو شیږی، ځکه چه الله دا دنیا ددی حق نور لپاره ودانه کړی ده، هغوی ولیدل چه دحق نور د **راشدینو خلفاؤ رضي الله عنهم** په زمانو کی ددوئ دگومان په خلاف دنړی گوټ گوټ ته ورسید او د **رحلتونو او شهادتونو** پواسطه خاموش نه شو.

البته دحق ټولو داعیانو «**له بابا آدمه تردې دمه**» ډیر کړاوُنه او ربړونه گاللی خو بالآخره حق خپل بریالیتوب گټلی دی.

کله چه سړی داسلامي تاریخ پاڼی اړوی او دتاریخ په دغه اوږده زمانه کی دحق دپلویانو سربښندنی او تکالیف گوری، پوهیږی چه الله حق دی، لار ئی حقه ده ، أنبیاء ئی ټول حق دی، او دحق دلیاری سپاهیان واقعاً په نیغه لیاری تللی دی.

هغه تکالیف چه **امام ابو حنیفه، امام مالک، امام احمد بن حنبل، امام شافعی رحمهم الله** او په راوروسته کی د حق نورو پلویانو لکه **شیخ الإسلام ابن تیمیة، شیخ الإسلام محمد بن عبدالوهاب «نجدی» رحمهم الله** گاللی دی بیان کړو ددې مقال له حوصلی نه وتلی کار دی اوسړی ته دا امید پیدا کیږی چه دحق ټولو پلویانو دا لیار طی، کړی په کومه چه دصالحینو سلفو ریښتینی وارث **الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)** ولاړ، ټولو زندانونه، ربړونه، تکالیف او شهادتونه گاللی خو دحق پلوی ئی نه ده پری ایښی.

الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) هغه میړنی غازی وه چه په افغانستان کی ئی دلمړی ځل لپاره دتوحید او سنت دعوت ته ملا وتړله او هغه لمړی مجاهد وه چه د ظاهر شاه او داؤد دطاغوتی حکومتونو په مقابل کی ئی دعملی جهاد اعلان کړی وه او دکمونستانو د (۱۳۵۷هـ ش) کال دثور د اومی نیټی نه وروسته ئی دعملی جهاد لپاره ملگری تربیه او دکونړ له سردرو څخه ئی په وسلوال جهاد پیل وکړ، همدغه دکونړ نیول شوی غنیمتونه وو چه په ټول افغانستان کی دجهاد دپراختیا سبب شول، له همدی لیاری دافغانستان له نورو برخو سره

ارتباطات ټينګ او پراخ شول همدغه دشهيد شيخ دمنهو ترړو او بې کچه سرښندنو نتيجه وه چه الله تعالی دکونړ خاوره دافغانستان له نورو سيمو څخه دمخه آزاده کړه او بيا ئې پرې دا احسان هم وکړ چه داسلامي امارت دجوړيدو توان ئې ورو بخښه، هلته شريعت حاکم شو، له الهی هدايت سره سم فيصلې وشوې، حدود نافذ او تطبيق شول، تر ممکن حده پورې دمنکراتو مخنيوی وشو، لنډه داچه په کونړ کی اسلام حاکم شو.

پدې اساس شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) په افغانستان کي لمړنی بلونکی، دجهاد لمړنی بانی او له خلفاء الراشدينو وروسته داسلامي امارت لمړنی بنسټ ايښودونکی دی.

مونږ نه غواړو چه په دې ليکنه کی دشيخ (رحمه الله) سوانح وليکو بلکه دا غواړو ثابته کړو چه حق دتل لپاره بر لاسی او دحق پلويان د «نصر من الله» او «فتح قريب» مستحق دی.

شهيد شيخ (رحمه الله) دتوحيد دبلی او نه مړی کيدونکی شمعی هغه پتنګ نه ؤ چه يوازې خپل ځان وسوزوی او ايره ئې کړی.

شهيد شيخ دتوحيد اوسنت هغه پتنګ ؤ چه دځان په څير ئې دحق نور داسی پتنګان روزلی چه هر يو ئې نارې وهی او وائی:

«هغوئ آواز دحق ويستی کله شی ★ څوك چه په وينو لمبيدلی نه شی»

«چه شهادت دفنا نوغی ګڼی ★ هغوئ دې بحر کی لمبلی نه شی»

دا زمونږ ايمان دی چه دشهيد وينه به رنګ راوړی او حق به بريالی او باقی وی او باطل به ختميږی.

محترمو لوستونکو دشيخ جميل الرحمن (رحمه الله) ژوند ديو عادی شهيد ژوند نه ؤ چه په يوه مقاله او يا يوه رساله کی دی ځای شی، ان شاء الله په راتلونکی کی به دهغه دژوند له خزانو څخه يوه يوه مرغلره را اخلو او ستاسو په سر به ئې لونو.

والسلام

(اداره)

په باجوړ کی د الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د وروستی وینا متن

دکونړونو داسلامي امارت ددعوت او ارشاد ریاست له خوا په ۱۳۷۰/۴/۲۷هـ ش نیټه د باجوړ دسرحدی آمریت په انګړ کی یوه دری ورځنۍ تربیتی اجتماع جوړه کړی وه چه په هغې کی دکنړونو داسلامي امارت امیر الشیخ جمیل الرحمن دکنړونو دورستیو پیښو په هکله یوه ګټوره عالمانه وینا وکړه، مونږ د محترمو لوستونکو داستفادی په منظور هغه نشر ته سپارو چی متن ئی په لاندی ډول دی:

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله وأصحابه ومن اهتدی بهدیه إلی یوم الدین، اما بعد : فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم.

قال الله تعالی: (وقالوا کونوا هودا اونصاری تهتدوا قل بل ملة ابراهیم حنیفاً وماکان من المشرکین* قولوا أمنّا بالله وما أنزل الینا وما أنزل إلی ابراهیم وإسماعیل وإسحق ویعقوب والأسباط وما أوتی موسی وعیسی وما أوتی النبیّون من ربهم لانفرق بین أحد منهم ونحن له مسلمون *) (البقرة -۱۳٦).

محترمو علماؤ، مشرانو، قومندانانو، مجاهدینو، مهاجرینو او انصارو ورونو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ددی اجتماع مقاصد درته په پوسټروکی اعلان شویدی چه دا اجتماع دهغو شهیدانو د تعزیي پخاطر جوړه شوي، کوم چه دکونړ په وروستیو حوادثو کی شهیدان شوی وو.

دکونړ په ولایت کی وروستۍ حادثه چه یا دکابل دملحد رژیم دهوا دارانو له خوا یا دداخلی منافقانو دتخریب کارانه اعمالو پواسطه منځته راغله، ددی سبب شوه چه هلته زمونږ مجاهدین اوبی شمیره نور بی ګناه خلك شهیدان شی. ددغو شهیدانو دتعزئي او همدارنګه دهغو شهیدانو دتعزئی په مناسبت چه دځینو خودغرضو کسانو دظلم او زیاتی په وجه په خط اول او دسرکاڼو په ولسوالۍ او یا هغه دری نفره قومندانان چه دمولوی فقیرالله له قرار ګاه نه پرې ړزی وشوی او شهیدان ئی کړل ددی تولو شهداؤ دتعزئی په مناسبت دا اجتماع جوړه شویده. ددی لپاره اولاً دهغو ټولو شهداؤ لپاره دپاك رب العزت نه خواست کوو چه الله تعالی دې دهغوئ شهادت قبول کړی، دهغوئ په اولادونو دې الله تعالی برکت واچوی او دهغوئ وارثانو ته دې دزړه صبر ورکړی او الله رب العزت دې دهغوئ ټولو وارثانو ته نیك عوضونه ورکړی.

او همدارنګه هغو ټولو شهداؤ ته چه خپل ځانونه ئی داعلاء کلمة الله لپاره دحق سنګرته حاضر کړی او هلته بیا دشهادت لوړ مقام ته رسیدلی، دهغوئ ټولو لپاره دالله تعالی په دربار کی سوال کوو چه دهغوی شهادت دې پخپل دربار کی

قبول او منظور کړی، او دهغوی شهادت دی دقیامت په ورځ دهغوی دعزت او سرخروئی سبب وګرځوی.

عزتمندو! پرون هغه وروڼه چه په دی جلسه کی حاضر وو، مولوی صاحب رحمت خان دغو واقعاتو په باره کی ورته مفصل راپور وړاندی کړ، زما په نظر اصلی مسئله چه له هره ځایه پیداشوی، شاید چه تاسو اکثره خلك ددی واقعی په باب ښه خبر یاست چه دشپې په دولس بجو دامارت اسلامي غیرمسلح مجاهدین په موټر کی سپاره وو، غوښتل ئی چه له یوه ځایه بل ځای ته ولاړ شی، چه دولایت او توپچی په لیاره کی دمولوی فقیر الله له قرارګاه نه ورباندی دراکټونو ډزی کیږی او ددغو مجاهدینو دشهادت سبب ګرځی.

اسلامي امارت دخپل اسلامي مسئولیت او ذمه واری په اساس له هغوی نه دقاتلانو او مجرمینو دتسلیمولو مطالبه کوی. دوئ دامارت اسلامي ددی مطالبی په ځواب کی دسرکاڼو په ډاګ دهغو مجاهدینو نیول رانیول شروع کوی چه په امارت اسلامي پوری مربوط دی، له هغی جملی څخه یو تن مجاهد چه د«قلعه» دکلی اوسیدونکی دی، ددوئ په وړاندی دسلاح له ورکولو نه انکار کوی، دغو وحشی صفتو انسانانو دغه مجاهد نیولی اول ئی وژلی دی، لاس او پښی ئی ورته پری کړی او بیا ئی ورباندی پاڼ راغورځولی دی.

همدارنګه په خط اول کی داسلامي امارت مربوط څه قومندانان او مجاهدین وو چه غوښتل ئی له یو ځای څخه بل ځای ته لاړ شی. ناڅاپه ورباندی دراکټونو ډزی کیږي چه په تنیجه کی یوتن شهید او دری تنه نور ټپیان کیږی، له دی نه وروسته دغه ظالم طبیعته انسانان دغه زخمی مجاهدین په سړك راکاږی، تر هغو پوری چه دوجود پوست ئی په سړك کی پاتی کیږی.

داټول هغه واقعتونه دی چه دسیمی اوسیدونکی ئی عینی شاهدان دی، کله چه دامارت اسلامي مقام دیوی جرګی په واسطه له هغوئ نه دمجرمانو غوښتنه کوی، دوئ په ځواب کی دسرکاڼو په ولسوالی حمله کوی او ددرندو وسلو په استعمال سره مخکی ځی، دمجاهدینو مرکزونه خپل هدف ګرځوی او غواړی چه دتوپچی په برابر خپله قرارګاه نوره هم مستحکمه کړی. ددی ټولو واقعاتو نه وروسته دامارت مجاهدین تصمیم نیسی او ځوابی کار روائی کوی، په دی ځوابی کار روائی کی چه دامارت مجاهدینو کومه مورچه قبضه کړی، دهغی مورچی کسان ئی صحی سلامت رخصت کړی او ورته ویلی ئی دی چه ګوره شر اوفساد مه کوئ او ځئ په مخه مو ښه.

حال داچه دامارت اسلامي دمجاهدینو وربانډی دقتل لاس برۍ، وژلی ئی نه دی، دبندی کولو لاس ئی وربانډی برۍ، بندیان کړی ئی نه دی. صرف لس کسه چه هغوئ هم دجنګ په حالت کی ګیرشویدی، هغوئ تر پرون پوری زمونږ سره بندیان وو، دغه کسان مونږ دشر دمخنیوی پخاطر بندیان کړیدی، په هغوئ کی داسی کسان هم شته چه مونږه ئی پیژنو چه هغوئ مجاهدین دی، خو غلطی رهبری او غلط قیادت بی لاری کړیدی، نور خو هغوی مجاهدین دی. په هغوی کی داسی کسان هم شته چه هغوی دقتل حق درلوده، ځکه چه دهغوی پواسطه بی ګناه کسان شهیدان شویدی، خو زمونږ مجاهدینو ورسره دورور ګلوی رویه کړیده او مونږ امارت اسلامي ته هدایت کړیدی چه هغوی دی په ضمانت خوشی کړی شی.

بله داچه مولوی فقیرالله په داسی حال کی چه دبی ګناه مسلمانانو وینی ئی تویی کړیوی دقرارګاه مخه ئی دمعصومو انسانانو په وینو سره وه، خو سره ددی هم زمونږ مجاهدین هغه له خپل ساز او سامان سره صحیح سلامت رخصتوی او مولوی صاحب لا دا یاداشت هم کوی چه دامی سلاح ده دامی کارتوس دی وغیره، زمونږ مجاهدین هغه هم ورته په شا اچوی او رخصتوی ئی، خو سره ددی هم دحزب یاران چه یوازی کیږی، بیا وائی چه ماله خو دی خبری ډیر زور راکړ چه سلفیانو دمولوی فقیرالله سره ډیر زیاتی وکړ، خو دا نافهمه ددی فکر نه کوی چه

مولوی فقیرالله چی کوم بی گناه خلك وژلی، هغه خو هیڅ زور نلری. دا ددوئ عقل دی، دا ددوئ عدل او انصاف دی.

دحزب دیارانو دا خیال دی چه بی گناه خلك ئی قتل کړل، امارت اسلامي ولی د دوئ په غاړو کی د زرو هارونه‌وروا نه چول، سره ددی دومره کار نامو بیا دا پروپاګنړ هم کوی چه مونږ ته اطلاع راغلی چه امارت اسلامي دکونړ په ولایت کی ډیر انسانان په قتل رسولی، مونږ وایو ددروغجن دې مخ تور وی.

په اصل کی دحزب حکمتیار طبیعت دشر او فساد طبیعت ګرځیدلی، په ټول افغانستان کی داسی ولایت نشته چه په هغه کی به دحزب حکمتیار چلی شر او فساد نه وی کړی، دغه چله دټول افغانستان لپاره دسرطان مرض ګرځیدلی دی.

انجینر حکمتیار پخپله بیانیه کی بی دلیله دروغ خپروی او دشهادت په اخبار کی پروپاګنړ او بی ځایه تهمتونه او سپکی سپوری لیکی.

هغوی چه کومه فیصله صادر کړی او په هغی کی ئی مونږ ته اخطار راکړی چه دنورو تنظیمونو نیول شوی سلاح ګانی او نیول شوی ځایونه دی فوراً ورکړی، که نه نو د وخیمو عواقبو مسئولیت به ئی ستاسو په غاړه وی!

مونږ وایو درسته ده چه دانجنیر صاحب په طبیعت کی دومره عدل او انصاف پیدا شویدی، دا دولس کاله چه ئی دجهاد په دوران کی ځومره افغانان وژلی، هغه هیڅ، خو ددی دولس کالو په جریان کی ئی چه په زرګونو میله وسله له جمعیت او نورو تنظیمونو څخه په جبر او زور اخستی ده او مرکزونه او کورونه ئی ورته وران کړیدی چه لنډ مثال ئی زمونږ سره په نژدی ولایت لغمان کی دی، اول دی پخپله دغه تصفیه سرته ورسوی بیا دی مونږ ته اخطار رالیږی.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائی: «چه که دانسان په زړه کی ایمان او دالله تعالی ویره پاتی نه شی، هغه بیا په هیڅ اړ نه وی».

حکمتیار او دهغه بانډ وائی چه دغه اسلامي أمارت دی رنګ کړی شی؟

او الله تعالی فرمائی:« وقاتلوهم حتی لاتکون فتنة ویکون الدین کله لله» الآیة

قتال ددی لپاره په تاسی فرض دی چه شرك پاتی نشی، ظلم پاتی نشی، فحش پاتی نشی او بی حیائی پاتی نشی، چه دی ټولو ته فتنی ویلی شی. «وقاتلوهم» ترڅو چه ټول دین دالله تعالی لپاره خاص شی.

دجهاد په دی دولس کلونو کی که په افغانستان کی داسلامي حکومت داسی مثال یا چا لیدلی وی او یائی قائم کړی وی، دوئ حق لری چه ووائی وګوری په فلانی منطقه یا ولایت کی اسلامي نظام قائم دی، دبل نظام دجوړولو کوشش ته څه ضرورت دی؟ مونږ په همدی نظام پوری ځان منسلك کول غواړو، نو په دغه صورت کی به دحکمتیار دغه دعوی درسته وای چه دکونړ اسلامي نظام دی رنګ شی.

مونږ نه پوهیږو چه دحکمتیار صاحب مطلب څه دی؟ آیا دی غواړی چه دکونړ په ولایت کی دی قبائلی زندګی منځ ته راشی؟ چه یو څو قوماندانان دڅو پیسو یا ټکو پخاطر یا دیو څو میله وسلو پخاطر هلته بی نظمی منځ ته راوړی؟ دظالم مخه و نه نیول شی؟ دفحش مخه ونه نیول شی؟ مونږ وایو له الله تعالی نه وویریږه، دالله تعالی پیشی په نظر کی ونیسه او پدی دولسو کالو دجهاد کی چه مجاهدینو قربانی ورکړی، دا هدر مه ګڼه، خصوصاً پداسی حالاتوکی چه بین المللی توطئی داسی روانی دی چه یا دامریکا او روس په قوت باندی له هغو اشخاصو څخه چه په مجاهدینو یا په قیادتونو کی ضعیف النفس او ضعیف الإیمان دی، او یا دغرب پرستومجاهدنمااوروس پرستو خلکوپه اشتراك یومخلوط حکومت جوړکړای شی او دا فغانستان په خلکو باندی دي تحمیل کړای شی.

تاسو په ذرایع ابلاغ کي آوری چه ددي منصوبي لپاره مسلسل کوششونه روان دی اوددی لپاره ټول وسائل په کاراچول شویدی. ددی منصوبي لپاره ددنیاټول مادی اوسرکش قوتونه په ګډه دا فعالیت کوی چه په افغانستان کی دی داسی حکومت منځ ته راشی چه هغه پراخ بنسټی حکومت وی او په هغه کی

دی هغه خلك چه دافغانستان داوسنیوواقعیاتومسؤلین دی. او وروسته ئی بیا غرب ته منډه کړیده چه اوس دغرب مشربو په نوم یادیږی؛ هغوی دی هم په دی پراخ بنسټه حکومت کی را داخل کړای شی.

خلاصه داچه خلقیان، پرچمیان، شعله یان، افغان ملتیان او هغه کسان چه ځان ته مجاهدین وائی، دوی ټول دې یو میز ته کینول شی او دافغانستان دآینده په باب دی فیصلی کوی. او ددوی دغه منصوبه تر یوه حده پوری کامیابه هم ده، ولی کامیابه ده؟ ځکه کامیابه ده چه دلته د جهاد په منځ کی داسي قیادتونه او داسی قومندانی شته چه هغوی تجارتی حیثیت لری، هغوی دخپل نفس او إیمان په نسبت ضعیف دی، هغوی ددی مشکلاتو تحمل نه شی کولای چه یو طرف ته دی امریکا او روس وی او بل طرف ته، ته دجهاد په لیارکی دا دومره مشکلات تیروه ! دالله تعالی دحکم دحاکمیت په لار کی چی دوی؛ ددغو مشکلاتو تصور کوی، دهغوی په وجود باندی لرزان راځی او په دی تصورکی شی چه څنگه به له دی موجوده مرحلی څخه ووځی.

خو زه وایم هر هغه نظام چه په افغانستان کی دجهاد له لیاری نه پرته، دکودتاه، انتخاباتو او یا له الله تعالی نه دسر کشو قوتونو دسازش په نتیجه کی منځ ته راشی، هغه به غیر اسلامي نظام وی.

داخبره زه ستاسو په نسبت نه وایم، بلکه دځان په نسبت ئی وایم چه ماته خو داسی نظام غیر اسلامي او غیر شرعي ښکاری او دهغه په مقابل کی درأی ورکولو نه راته جهاد او شهادت غوره ښکاری، زه دانه وایم چه آسمان به راوغورځوم او یا به ځمکه چپه کړم. خو انسان په خپل وس مکلف دی..

مونږ له ابتداء نه کافرانه نظام ته کافرانه ویلی دی، هغه مونږ رانسکورولی نشو، خو کافرانه مو ورته ویلی دی، جرم کی مو ورسره حصه نده اخیستی، تسلیم شوی ورته نه یو، اطاعت مو ورته ندی کړی، **مونږ داویلی او وایو ئی چه هر هغه نظام چه دیوی توطئی په بنیاد منځ ته راشی، هغه نظام به غیر اسلامي اوغیر قانونی وی.**

په افغانستان کی دحکومت جوړولو حق نه له امریکا اونه له روس سره شته، او نه له نورو طاغوتی او له الله تعالی نه له سرکشو قوتونو سره شته، هغوي دا حق نلری چه د افغانستان د مجاهد ولس دآینده سرنوشت دټاکلو نمایندگی وکړی.

دکفری طاقتونو ددی دسیسو سره سره مونږ له دغو وروڼو نه پوښتنه کوو چه آیا تاسو جهاد دالله تعالی لپاره پیل کړی که دکوم تنظیم لپاره ؟

او یا که مو دهغه اسلامي نظام لپاره پیل کړی چه په هغه کی دخلکو دآبرو دخوندی ساتلو، دامنیت دبرقراری، او دالله تعالی دحکم د حاکمیت انتظام او اهتمام وی؟

وروڼو! دا څه تجارتي اړه نه ده، بلکه دالله تعالی او دخپل ځان په منځ کی رابطه قائمول دی. داخبره چه ماله سلاح راکړه، یا ماله غنم راکړه، ددی مطلب به دا وی چه دامارت اسلامي پنځه زره عمله چه دکنړ په ولایت کی فعالیت کوی، له هغوی سره زمونږ هیڅ تعلق نشته، هغوی به ځان ته کارکوی او مونږ به ځان ته دنیا پیداکوو، اسلامي نظام خو د ټولو انبیاؤ علیهم الصلاة والسلام مشن دی.

دا ټول انبیاء ددی مقصد لپاره رالیږل شوی او کتابونه ورته ورکړل شوی چه دا کتاب به په خلکو باندی حاکمیت ولری.

دا چه دکوم امت یا دکوم ملت یا د چا نصیب کیږی، ددی لپاره الله تعالی انبیاء علیهم الصلاة والسلام رالیږلی او دهغوی نصیب شو، دا ددی دنیا دبندگانو نه نصیب کیږی، هغه که زه یم اوکه تاسو.

ددنیا بندگانو ته پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائي: پیغمبر صلی الله علیه وسلم خلك په دوو ډلو ویشي، یو د روپۍ او اشرفۍ بنده دی، دهغه ټولی فیصلی، موقف او قضاوت، خوشحالی او رضایت پدی کی دی چه څه راکړی شو او څه رانکړی شو، ددی فکر ورسره نه وی چه مسئولیت می څه دی؟ ذمه واری می څه ده ؟ او دالله تعالی په لارکی زما مسئولیت څه دی؟

ددی ډلی په هکله پیغبر صلی

الله علیه وسلم فرمائي: بدبخته دی وی بدبخته دی وی او فرمائی چه الله تعالی به دده یو وړوکی مشکل هم پوره نه کړی، چه په پښه کی ئی اغزی لاړشي، ویستلی به ئی نشي.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائی: سعادت او نیك بختي ده هغه چالره چه دآس واگی ئی نیولی وی او هغه ئی تابع وی چه ورته وائي چپ طرف ته لاړ شه، چپ طرف ته ځی، چه ورته ووائی شاته لاړ شه، شاته ځی، چه ورته ووائی مخی ته ولاړ شه، مخته‌ځی چه ورته ووائی ښی طرف ته لاړ شه ښی طرف ته ځی.خوحیثیت ئی څه وی ! پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائی :

ددی حیثت داوی چه دچا دروازه ټکوی دروازه ورته نه خلاصوی او که دچاه دپاره سپارش او شفاعت کوی، شفاعت ئی نه قبلیږی، دا دوه قسمه خلك دی. ددی خلکو لپاره الله پاك هغه الهی رحمت چه دانبیاؤ پواسطه ئی دی عالم ته رالیږلی، ددی ډلی پواسطه دیو ملت او قوم نصیب کیږی، دا چه زه یو قومي سړی یم یا قومی مشریم، یا دومره مجاهدین لرم، اویا دومره راسره سلاح ده خو په هغی موږ نه یم نوره راکړه، داد هغو بدبختو خلکو کار وی چه مخکی ذکر شول.

زما ورونو! دلته تصور ددنیا نه، بلکه تصور دهغه مسئولیت او ذمه واری دی چه الله تعالی دهغه دسرته رسولو لپاره یو لك او څلورویشت زره زیات وکم پیغمبران رالیږلی دی او هغوی دغه ذمه واری په ښه شان سرته رسولی او ټول هغه خلك چه دا کلمه وائی چه «لا إله إلا الله محمد رسول الله» او ایمان ئی په نفس کی ځای نیولی وی، دا دهغوی ذمه واری ده.

مونږ دی ورونو ته وایو او ټولو هغو ورونو ته وایو چه هغوی دالله تعالی لپاره جهاد کړی او اوس دکنړ په ولایت کی خپله زند گی سرته رسوی چه ورونو! دافغانستان اوسنی حالت صحیح ندی او نه ئی دغه خلك جوړولی شی، دوی دغه قابلیت له لاسه ورکړی دی، هر هغه شکل چه دوی ئی جوړوی، هغه غیر اسلامي شکل وی، هغه به ختمیږی او الله تعالی به پکی برکت نه اچوی. دهغوی په انتظار کښیناستل او خپل مسئولیت او ذمه واری شاته غورځول دالله تعالی نه زمونږ دخلاصون سبب نه گرځی.

دلته ئی قراردادونه او تعهدات وکړل اوس تښتی او خپل تعهدات تر پښو لاندی کوی، مونږ نه پوهیږو چه دویځ دکوم مقصد او مرام پخاطر له خپلو فیصلو نه تښتی؟ غیر له دې نه چه دالله تعالی لعنت د خپل ځان نصیب کړی، غیر له دې نه چه ددنیا دڅو روپیو پخاطر خپل ژوند له لاسه ورکړی، بل به څه گټه ورته ونکړی.

دا چه څنگه او ولی به خپل ژوند له لاسه ورکړی؟ معنی دا ده چه زه لمونځ کوم، که دا ټول خلك متفق وی او که نه وی، زه به خپل لمونځ کوم، هر هغه څوك چه ما دخپل لمونځ نه منع کوی، په دی لیار کی له هغه سره زما جنگیدل جهاد دی، ولو که هغه مسلمان هم وی، زما مرگ دشهادت دی او دهغه مرگ دشیطان په لارکی دی.

دا خبره ما تاسو ته مخکی هم کړی وه چه په دنیا کی دوه قسمه مرتدان دی :

یو هغه څوك چه اصلی اسلام پریږدی او له الله تعالی نه منکر شی، دقیامت له ورځی نه منکر شی او داسلام دمقدس دین له حقانیت نه منکر شی، معنی داچه اول ئی ایمان راوړی وی، بیا مرتد شی.

بل هغه څوك دی چه داسلام په ټولو فرائضو اقرار کوی، چه داحق دی خو عمل پری نه کوی، دی ته وائی مرتد دشریعت نه، مرتد دفرائضو او واجباتو نه پیغمبر صلی الله علیه وسلم لدی دواړو ډلو سره جهاد کول بهتر گڼلی له هغه جهاد نه چه داصلی کفارو په مقابل کی کیږی.

ورونو! مونږ او تاسی جهادکړی، قربانی مو ورکړی، خو ددی قربانی معنی به دا نه وی چه زمونږ قربانی دی دالله تعالی دحکم په مخکی خنډ وگرځی. قربانی خومونږ پدی خاطر ورکړی چه دالله تعالی حکم حاکم شی.

مونږ وایو چه دغه لیار مونږ ته غوره ښکاره شوی، او اسلامي لیار ده، قرآنی پاك اصول او سنت درسول راسره دی، دعلماؤ اقوال راسره دی او دایمان په رڼا کی مو

دا لیاره انتخاب کړیده.

دلته به اسلامي نظام محکم ساتو او ددغه نظام دحاکمیت کوشش به په هر حال کی کوو، که هغه زه أمیر یم او که بل څوك أمیر وی. دا زمونږ فریضه ده چه په دی لیارکی شهیدان کیږو، دا به زمونږ لپاره دفخر خبره وی.

خو زه تاته وایم چه داالله بنده ! ته ولی ځان وژنی، صرف پدی خاطر چه زه دحکمتیار دتنظیم غړي یم او هغه رانه خفه کیږي، یا پدی خاطر چه هغه خو ماله سلاح راکوی.

گوره چه دنیا او آخرت دی دواړه تباه کیږی، پدی دنیا ژوند هم له لاسه ورکوی او آخرت هم.

مونږ دي ټولو وروڼو ته وایو چه مونږ او تاسي وروڼه یو، په خطا لیاره روان یاست، مونږ تاسو ته دعوت درکوو او داسلام په طریقه ئی درکوو، نه کنډك شته، نه پیسي شته،دلته دضرورت په اندازه امنیت ته ضرورت دی، مونږ سوال گر یو، لاس مو بل چاته نیولی دی، نه خپله کرنسی لرو او نه خپل زر لرو، که مونږ دلته اوسیږو هغه هم سوالی خوراك دی، او که مجاهدینو ته څه رسیږی هغه هم دسوال څیز وی، مونږ وایو دتجارت ټکی له نظره لیری کړه، مسلمان شه او دالهی نظام په لار کی خپل قوتونه قرباني کړه. لدی زندگی وروسته خوریږو، اوس باید ځان ته خپل ملك او خپل نظام جوړ کړو.

دتجارت ټکی باید له نظره لیري کړو، دکنړ د امینت لپاره به دپنځه کسو ضرورت وی، یا به ته راځی یا به بل راځی، هلته به شل دیرش تنو ته دسنگر دساتلو ضرورت وی، هغه راغلی دی.

جهاد دټولو مسلمانانو لپاره نیك بختی ده، دا به ستا لپاره بدبختی وی چه ته ووائی زه جهاد ته نه ځم، څوك چه معاش اخلی هغه دی جهاد هم کوی. ددی معنی به دا وی چه زه فرض نه کوم، لمونځ نه کوم، روژه نه نیسم، څوك چه معاش اخلی دا دهغوی وظیفه ده، دوئ فکر نکوی چه هغوئ خو دداخلی نظام دساتلواو دامنیت دبرقراری لپاره مؤظف شویدی، هلته فحش پیداکیږی، هلته قتل پیداکیږی، په حدودو تجاوز او تیری کیږی، یو قوم دبل قوم سره نښلی، دداخلی جهاد لپاره دغه خلك مکلف شویدی.

دا چه ته عمومی جهاد پریږدی، ددی نتیجه به مرتدوالی وی، زمونږ شکلونه به دمسلمان او دعوه به مو دمسلمان وی، خو په اصل کی به مرتد یو.

دغه خبری چه هر څوك وائی، دا یا لوی منافق دی او دمسلمانانو په منځ کی رانغوتی، تفرقی اچوی او یا خوډیر جاهل او ناپوه دی. جهاد خو د مسلمانانو فریضه ده او تر څو چه ژوندی وی تر هغه دا فرض ده.

(وقاتلوهم حتی لا تكون فتنة ويكون الدين كله لله) الآية-انفال

ترجمه : جهاد وکړی تر هغه پوری چه فتنه په عالم کی پاتی نشی او ټول دین دالله لپاره خالص شی.

داچه داالله تعالی دحکم په مخکی پیر صاحب خنډ اچوی، ملا صاحب خنډ اچوی، قوماندان صاحب خنډاچوی ددی ټولو په مقابل کی جنگیدل ستا فریضه ده، غیرلدینه اسلام څه آسان شی ندی.

داقبال یو شعر دی چه وائی: «که میگویم مسلمانم بلرزم ! که دانم مشکلات لا اله الا الله را».

داچه په چاپیریال کی څه تیریږی او صوفی صاحب په کنج کی ناست، لا إله وائی او ملا صاحب په جمات کی ناست دی او وائی چه په سیاست کی خو لاس نه وهم او نیك سړی یم ! په اصل کی دا رنگه ملایان او صوفیان داالله تعالی دانبیاؤ مشن او طریقه خطا کړیده، پیغمبر صلی الله علیه وسلم پخپل درویشت کلن ژوند کی دجهاد په لیار کی څومره تکالیف گاللی دی داټول عمر چه راجمع کړی، هغه تکالیف نشی زغملی دا داسلام سره لازم او ملزوم تکالیف دی.

عزتمندو! مونږه او تاسی الحمدلله ټول مسلمانان یو، توصیه او نصیحت دټولوفریضه ده، داسی خبره کول چه هغه د مجاهدینواحساسات او دمجاهدینو سوچ او فکر ضعیفه کوی، داسی خلکو ته منافق ویلی شی. په دغه باب الله تعالی فرمائی:

د مسلمانانو په منځ کی دری قسمه خلك وی: یو هغه منافقان دی چه غواړی له مسلمانانونه دإسلام مسیراوطریقه خطاکړی؟ بله ډله

هغه خلك دي چه هغوي هم ضعيف الايمان او ضعيف النفس دي، هغوي هم منافقين دي، هميشه داسي آوازي خپروي چه دمجاهدينونفسيات څرنگه ضعيف کړي. دريمه ډله هغه خلك دي چه په زړونو کي ئي مرض وي، هغوي ظالم وي، فاحش وي، غواړي چه بي نظمي اوگوډي ادامه ولري، څو هغوي په کي خپلي مادي اودنيوي گټي ولټوي.

ددغو دري طبقو خلکوپه هکله الله تعالى فرمائي: يابه منع کيږي که نه دهغوي جزا به داوي چه چرته موندلي شي، هلته به وژلي شي.

عزتمندو ! فکروکړي څومره مو چه دإسلامي نظام دقيام په ليار کي له روسي ذنديقانوسره جهاد کړي اوقرباني مو ورکړي، دغه شان قرباني اوجهاد دإسلامي نظام دقيام لپاره ستاسو فريضه ده.

مونږ دهغووروڼوپه متعلق داوايوچه زمونږ کوم وروڼه دتعصب، ناپوهي، جهل او يا دتنظيمي لارښودني په پرستش کي پراته دي، له ابتدا نه چه دوي دلته اتفاق کړيدي، قراردادونه ئي پاس کړيدي، بيا دهغو قرار دادونو نه وروسته انتخابات مينځ ته راغلي دي، له هغه وخت نه تر دي وخته پوري مونږ ټولي ممکني لياري چه هغه دپيوستون لياري دي، دوي ته وړاندي کړي چه يو طرف ته پيوستون راشي او بل طرف ته اسلامي نظام مضبوط شي، تاسي زمونږ وروڼه ياستي راشي داسلامي نظام سره تعاون وکړي او که دي ته آماده نه ياستي، زمونږ سره موقراردادونه کړي، ددي قراردادونو په اساس باندي دکونړ خلك ټول تاواني شويدي، نو بيا راځي چه شريعت ته کښينو .

په دغه باب مونږ ټولو جهادي تنظيمونو ته دعوت ورکړي چه په هغوي کي عبوري حکومت او حزب حکمتيار هم شامل دي، پدي هکله دپاکستان دجماعت اسلامي يوشمير کسان هم راغلي وو. مونږ ورته ويلي وو چه مونږ شريعت ته حاضر يو که په شريعت کي مونږ ملامت شو، دا نظام به ضرور ړنگوو، خو بل نظام به فوراً جوړوَ، هغوئ وويل ددي خبري ليکلي سند راکړه. ماورته ليکلي سند ورکړ. کله چه پيښور ته واپس شول، له هغو سره تر خبرو اترو وروسته ئي ما ته ځواب راوليږلو چه فعلاً دغه خلك شرعيت ته تيار نه دي.

بيا تاسو دقوم مشران پنځه شپږ سوه کسان راغلئ، دوه مياشتي مو په ولايت کي تيري کړي، په اوله ورځ مونږ داخبره کړي چه کومه فيصله کيږي په شريعت به کيږي.

خو متأسفانه دا جرأت په چا کي نشته چه حق ته حق ووائي او باطل ته باطل، او چه جرأت او علميت ورسره وي بيا طاقت ورسره نه وي چه فيصله وکړي.

دغه مشکلات دي چه الله تعالى ديو نظام فرض کيدل لازم کړيدي. يو نظام به موجود وي، يو آمر به وي چه قوت منځ ته راشي او دمسائلو حل وفصل وشي.چه يو نظام نه وي دمسائلو حل و فصل نه کيږي.

لدي وروسته دحزب له مرکزي شوري نه څلور کسان راغلي دي، مونږ ورته وويل چه زمونږ فيصله تاسي وکړي، دسهار نه بجي ئي راسره وعده وکړه چه فلاني ځاي ته به راټوليږو او خبري به کوو.

کله چه ورغلو، ويل ئي چه مولوي فقيرا لله سره دخپلي ټولي کابيني ناروغه دي او ددي توان نلري چه خبري وکړي، لکي ئي پشا راواړولي او مخ په پيښور وتښتيدل .

وروسته له دي مولوي فقير الله دحزب په دستور په کونړ کي هله گوله جوړه کړه، په کونړ کي ددوو قوماندانانو جگړه وه، په باجوړ کي ئي ډول غاړي ته واچوه او چيغي ئي شروع کړي چه سلفيانو په مونږ حمله وکړه. دروغجن سړي دي الله تعالى رسوا او شرمنده کړي چه څوك به فتنه پورته کوي، هغه که هر څوك وي (امين).

جنگ ددي فتنه بازو پخپل منځ کي وو، او ناري ئي وهلي چه سلفيانو په مونږ حمله وکړه.

ما ورته دعوت ورکړ چه مولوي صاحب فقيرالله به سره دټولو خپلو قوماندانانو او سرگروپانو زما ميلمانه وي، زما خيال دا وه چه مخامخ به سره خبري وکړو. ده راته په ځواب کي وليکل چه وخت نلرو.

جهاد خو دعزت شي دي، انسان ته شخصيت پيدا کوي. پيغمبر

صلی الله علیه وسلم فرمائی : کبر او لوئی دالله تعالی لنګ او څادر دی، معنی دا چه څوك لوئی او کبر کوی هغه له الله تعالی نه جامی وباسی، اوځانته ئی اغوندی.

زمونږ مقصد خو ددعوت نه صرف دا وه چه خلك د فتنی نه بچ شی. په دغه جریان کی مولوی صاحب دشاګو زمونږ ځای ته راغی، ډیر زیات وارخطا وو، خیال ئی دا وو چه حالت ډیر زیات خراب دی، چه راغی ویل ئی دلته خو څه نشته، زما خو خیال دا و چه کونړ به ټول وران شوی وی. ویل ئی په باجوړ کی داسی آوازی وی، چه کونړ ټول وران شو. بیا ئی وویل که ته راسره متفق ئی زه به دڅو علماؤ په شمول ستاسو په مینځ کی فیصله وکړم. ما ورته په ځواب کی وویل : څنګه به متفق نه یم، تاسو زمونږ علماء یاستی، ددین فیصله به ولی نه منو. ویل ئی: دلته راته ولیکه، ماورته ولیکل چه مونږ اسلامی فیصلی ته هر وخت آماده یو، مولوی صاحب هلته ورغی، بیرته چه واپس شو راته ئی وویل هغوی خو اختیار نه را کوی.

الله تعالی شاهد دی چه زمونږ سره دچا دإذلال یا رسوا کولو فکر نشته، مونږ مسلمانان یو، دخیر او هدایت لاره د ځان او د بل لپاره یو شان پیرزو ګڼو.

مونږ دپیوستون ټولی ممکنی لیاری استعمال کړی، خو زمونږ دخبرو آخری نتیجه دا شوه چه تاسو واوریدله.

اوس پدی جلسه کی جهادی قوماندانان دی، که علماء او که طالبان دی، اوس هم مونږ وایو چه مونږ دخپلی خبری نه تیر نه یو، هله به تیریږو چه داسلامی شریعت له لیاری قناعت راکړای شی. ولی که ددی لیاری نه تیریږو او بله لیار اختیاروو، هغه خلك چه پخوا ئی هم درواغ ویلی او دخپلو قراردادونو نه تښتیدلی دی، نو وروسته بیا دبلی لیاری اختیارول او په هغی کی اطمینان او تسلی له کومه ځایه پیدا کیږی؟ دا چه حکمتیار وائی چه زه دامریکا دشمن یم آیا دا رښتیا وائی؟

امریکا په ټوله نړۍ کی دبشری حقوقو په عنوان غواړی چه دیموکراسی نظام قائم شی او هلته انتخابات وشی، هلته دښځی او سړی نه یو شان رأی واخستل شی، داسی سړی چه دامریکا نظام غواړی او په ظاهره دامریکا ددشمنی ناری وهی، دا کوم سیاست دی ؟

الله تعالی مو په سر شاهد دی چه دحکمتیار ګوند دغه امریکائی سیستم دلته تحمیل کړیدی. اول ئی ویل چه باید یو قوماندان دا کار وکړی چه دقوماندانانو وخت راغی، بیا ئی ویل چه څنګه یو قوماندان ددیرشو تنو نمایندګی کولائی شی او دوه ښځی به یو سړی حسابیږی.

پدی کی دحکمتیار دګوند مرام دا وو چه په یو ډول نه په یو ډول دامریکا منحوس دیموکراسی نظام دلته هم را یج کړی.

وروڼو ! اوس هم زه دا اعلان کوم چه دحکمتیار دګوند افراد دی راشی، په شوری کی دی ګډون وکړی، زه ددوی په مخکی استعفی ورکوم. بیا دی امیر وټاکل شی، دادی، تاسو ټول ئی اوریئ، که ما درواغ وویل نو دا به زما دپاره یو خجالت وی. داخبره ما یو ځل مخکی ټولو وروڼو ته دمولوی صاحب فقیر الله په مخکی هم ویلی و، او پدی می ټینګار کړی و او اوس هم دا وایم چه دا نظام به قائم وی، ددی نظام سره تر څو پوری چه دا مجاهدین او قوماندانان متعلق وی، الله تعالی به ورسره مرسته کوی.

مونږ او تاسو دولس کلن جهاد دالهی نظام په خاطر پیل کړیدی، اسلامي نظام یو طریقه او هدف لری چه دا به مجاهدین په خپل عمل کی تمثیلوی، دا به دامنیت قوماندانان پخپل عمل کی تمثیلوی، دا قوماندانان به داسی تصور کوی چه زه دالله تعالی قوت او لښکریم، او دالله تعالی امر او حکم به څنګه دځمکی په سر دالله تعالی په مخلوق کی تمثیلوم؟ او که ددی لحاظ ونه ساتی، مونږ دالله تعالی نه سوال کوو چه یا الله مونږ پری ونه نیسی، زمونږ دعوت درست او سالم دی او طریقه مو واضحه ده.

مونږ دالهی حکم دقیام لپاره خپل قوتونه پکار اچوو، دا زمونږ فریضه ده او ددی لپاره چه دالله تعالی حکم قائم شی.

یا الله که زمونږ په مجاهدینو کی ناپوهی وی یا داسلام خیال

ورسره نه وی، بلا فهم ورسره وی خو نفس پرستی ئی را واخلی بیا دخلکو دعزت سره، دخلکو دمال او حیثیت سره لوبی کوی، ته ورته هدایت وکړی چه په هغی گناه مونږ ونه نیسی او که نیسی نو یا الله شخصاً هغه ونیسی.

زه خپلو خبرو ته خاتمه ورکول غواړم بد رد ویل زمونږ هم یاد دی، په چا پوری بی ځایه تهمت تړل مونږ ته هم یاد دی، واقعیتونه مونږ ته ښه معلوم دی، خو مونږ چه څه کوو هغه دجهاد او مجاهدینو په نفع کوو.

د انجنیر صاحب او دهغه دهم نشینانو اعصاب ډیر زیات خراب او متزلزل دی.

وائی چه دوئ دامریکا ! جنټان دی. **خو زه وایم انجنیر صاحب په پیښور کی ایرکنډیشن ته پروت ؤ، په افغانستان کی عملی جهاد او په افغانستان کی دجهاد دعوت دی غریبو علماؤ چلولی دی**، مونږ دا وایو چه تاسی ئی مجاهدین صحیح، خو دالله تعالی سره ښه رابطه قائمه کړی.

ددنیاپول مادی اوسرکش قوتونه په کره دا فعالیت کوی چه په افغانستان کی دی داسی حکومت منځ ته راشی چه هغه پراخ بنسټی حکومت وی او په هغه کی دی هغه خلک چه

دافغانستان داوسنیووافعیاتومسوولین دی. او وروسته ئی بیا غرب ته منډه کړیده چه اوس دغرب مشربو ته نوم یادیږی. هغوی دی هم په دی پراخ بنسټه حکومت کی را داخل کړای شی.

انجنیر صاحب په خپله اعلامیه کی لیکلی چه: (حکومت مضحکه خیز ولایت کنر را منحل اعلان کند).

مونږ وایو چه منحلوو به ئی خو انشاء الله داسی به ئی منحل کړو چه له دوی نه ډیر خیر مونږ تر لاسه کړو.

پخپله انجنیر صاحب حضرت صاحب ته وائی چه په مونږ او تاسی کی سیاسی اختلاف دی، نه مذهبی اختلاف او نه عقیدوی اختلاف.

هغه انجنیر صاحب چه دحضرت صاحب دفتر ته ئی دکمونستانو اړه ویله، هغه انجنیر صاحب چه دسیداحمد گیلانی دلور عکسونه ئی په اخبارونو کی خپرول. نن هغه انجینر صاحب دهغوئ په در کی ولاړ وی او دتیلفون گوشک له غوږه نه لیری کوی او تیلفونی مرکی ورسره کوی او وائی چه زمونږ او ستاسی سیاسی اختلاف دی، مذهبی نه دی. صرف دوئ زمونږ سره مذهبی او عقیدوی اختلاف لری.

زمونږ عقیده او مذهب خو واضح دی. قرآن او سنت رسول مو مذهب دی. ټول أئمة ددین زمونږ پیشوایان دی، دا زمونږ عقیده ده او دا زمونږ مذهب دی.

له الله تعالی نه غیر بل هیڅوک دپرستش حق نلری، دسر ښکته کولو مستحق هغه دی دسوال او زاری کولو مستحق هغه دی، باید هغه ته سوال او زاری وشی، حاجت له هغه نه وغوښتل شی، له هغه نه غیر دمخلوق پلاس کی هیڅ نشته، که هغه ولی دی او که ملك.

رب العزت فرمائی: مشرکانو داسی نه ویل چه دا زمونږ خدایان یا خالقان، یا رازقان دی، چا ملائك انتخاب کړی وو چا اولیاء انتخاب کړی وو او ویل ئی چه دوئ ته الله تعالی دبعضو کارونو اختیارات ورکړی، چه هغه کارونه دوئ اصلاح کولای شی او ددوئ سپارش او شفاعت ضرور الله منی، هغه خلك پدی مشرکان وو . الله تعالی فرمائی: ای ظالمانو! څنگه تاسو دا وائی چه الله بعضی کسانو ته اختیار ورکړای دی او ملکیت ئی دڅه شیانو ورکړی دی ؟ فرمائی : تاسو خپلو مریانو ته دکوم شی ملکیت ورکړی دی؟ هغوی ته خو تاسو دڅه شی ملکیت ندی ورکړی، نو بیا زما په هکله تاسو څنگه وائی چه ملائك ، پیغمبران او اولیاء ئی شریکان دی.

قرآن پاك او حدیث دامامانو مذهب دی، قرآن او حدیث خو دټولو مسلمانانو مذهب دی. خو

مونږ ددې ظالمانو پوښتنه کوو چه په نظرکې تفاوت نلرئ؟ په عقیده کې ئې نلرئ؟ په مذهب کې ئې نلرئ. نو دا اختلافات مو له څه نه شروع کړیدي؟ چه دافغانستان په زرګونو مجاهدین مو تباه او قتل کړل ؟

دلغمان په ولایت کې پوښتنه وکړه، یو تن قوماندان چیرته دروسانو په مرمۍ ړندي مړ شوي، ټول قوماندانان په خپل منځې جګړه کې مړه شوي دي، ما دلغمان دولایت له یو اوسیدونکي نه پوښتنه وکړه چه دانقلاب په جریان کې څومره کسان شهیدان شوي یا ستړئ؟ وئې ویل چه زر یا دولس سوه تنه به شهیدان شوي وي، او پخپل مینځې جګړه کې به له پنځه شپیتو زرو نه زیات کسان مړه شوي وي.

حزب حکمتیار په مونږ پوري تهمتونه تړي او وائي: «سلفیان وائي چه په افغانستان کې دمشرکینو او روسانو مقابله ده» غواړي چه خلك زمونږ په مقابل کې تحریك کړي.

ورونو ! دا جهاد مونږ دروسانو زندیقانو په مقابل کې شروع کړیدی. په افغانانو کې زندیقان هم شته او منافقان هم شته، خو هغه څوك چه داسلامي عقیدې خاوند وي هغه مسلمان دی.

دا تهمت چه دوئ وائي چه دروسانو او مشرکینو په مقابل کې جنګ دی، دا نه زمونږ په جرائدو کې شته نه ئې پیدا کولای شي.

دا یو ډیر واضح دروا غ دی چه دوئ ئې زمونږ په مقابل کې وائي.

مونږ وایو هغه خلك چه دجهالت په وجه ئې په اعمالو کې بدعت دی، هغوی کافر ندي، هغوی مسلمانان دي، یو مجاهد چه داسلام په مینه جهاد کوي، هغه چه په دې پوه شي چه داجهل دی فوراً سمې لارې ته راګرځي. خو هغه خلك چه علم ورسره وي او دشرك عقیده ساتي، هغه مسلمانان ندي، هغه مشرکان دي، هغوئ ته مونږ مسلمانان نه شو ویلی.

عزتمندو ! بله داچه که چیرې دا ټول تنظیمونه پدې و توانیږي چه دټول افغانستان په سطحه له یو تن سره بیعت وکړي او ټول هغوئ ته تسلیم شي، دا به زمونږ او ستاسي لپاره یو دلیل او حجت وي چه دادي ټول افغانستان متفق او جوړ شو.

دا چه دافغانستان په ټولو ولایاتو کې ګډوډۍ او بی تنظیمي ده، هلته اسلام په عنوان دی، دخلکو عزت او آبرو پایمال ده او ددي حالاتو سره سره داهم وائي چه دکونړ په سطحه کوم اسلامي امارت تأسیس شویدی دادې ړنګ شي، ځکه چه داد امریکا او روس تحریك دی، په اصل کې دوئ نه غواړي چه د زمکې پر مخ یو اسلامي نظام قائم شي.

په آخر کې زه یو ځل بیا دې ورونو ته دعوت ورکوم چه که دوئ شریعت ته حاضریږي، مونږ هر وخت تیار یو او که چیرې په منطقه کې د فساد او تخریب نه کار اخلي، دخپلې جزا سره به مخامخ شي او پدې لیار کې شهادت او قربانۍ مونږ قبوله کړیده. که په افغانستان کې جامع اسلامي نظام او اسلامي شریعت حاکم شو، دکونړ ولایت دهغه جزء دی. تر څو پوري چه اسلامي نظام په ټول افغانستان کې قائم نه شي تر هغې پورې ددې نظام نه دفاع کول او استحکام او ده ته وسعت ورکول د ځان فریضه ګڼو.

والسلام

په اصل کې دحزب حکمتیار طبیعت دشر او فساد طبیعت ګرځیدلی، په ټول افغانستان کې داسې ولایت نشته چه په هغه کې به دحزب حکمتیار ډلې شر او فساد نه وي کړي، دغه ډله دټول افغانستان لپاره دسرطان مرض ګرځیدلی دی.

اسلامي امارت او د هغه د جوړیدو ضرورت

له کوم وخت نه چه اسلامي نړۍ د استضعاف په رنځوونکي لومه ښکیل شوې او نړیوال کفر داستکباري او استعماري ځواکونو په ملتیا د اسلامي امت ډیوټه کولو او تفرقې لپاره هول هول دسیسې او توطیې په کار اچولې او هڅه یې کړې چه اسلام، په هیوادو تقسیم شي، څو دغه واړه واړه اسلامي هیوادونه د غورو نمړیو په څیر ددغو جنایتکارانو له کفري حلقونو څخه ښه تیر شي.

په اسلام او اسلامي هیوادونو باندې د استعماري ځواکونو پرلپسې حملې او د اسلامي امت له خوا هغوی ته غابش ماتوونکي ځوابونه او د هغوی د آزمندانه او حریصانه غوښتنو مخنیوی ددې سبب شو چه دوخت د استعمار مشران د خپلې ناکامۍ او رسوائی سبب «اسلام» وګڼي، پدې اساس د انګلیسي استعمار پخوانی صدراعظم «ګلادستون» په هغه غونډه کې چه داسلام او اسلامي نړۍ پر ضد یې جوړه کړې وه، حاضرینو ته پداسې حال کښې خطاب وکړ چه زمونږ سپیڅلی آسماني کتاب (قرآنکریم) یې پلاس کې و او داسې یې وویل :«تر څو چه داکتاب (قرآنکریم) دمسلمانانو په مینځ کې حاکم وی او مسلمانان ددې کتاب له حکم سره سم خپلې مسئلې حل اوفصل کوی، مونږ نشو کولای چه هغوی تر خپلې سلطې لاندې راولو، پس هڅه باید وشي چه قرآن او مسلمانان سره جلا کړو».

او ،یا دا چه د سره الحاد او کمونیزم تیوری پردازانو (مارکس، انګلس او لینن) او د پرولتاریا د دیکتاتوري مدافع او جلاد (ستالین چه لاسونه ئې تر مړوندو پورې د شل ملیونه انسانانو په وینو سره دي)، دین دټولنې لپاره تریاک ګڼلی دی.

بناء ټول کفری قوتونه که ظاهراً د «ختیځ» اویا «لویدیځ» په بڼه خپل ځانونه مستضعفو ولسونو ته یو دبل دښمن ښائي، خو حقیقت ئې قائد الموحدین رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته داسې راښودلې چې : «الکفر ملة واحدة»، خو له اسلام سره دهغوی دښمنې یوازې دهغوی په روش او تکتیک کې فرق لري، که نه نو دښمنی ددواړو یوه او زمونږ په مقابل کې دواړه خصمانه موقف لري، یعنې لویدیځ کفر غواړي چه اسلام او مسلمانان سره په داسې طریقه بیل کړي چه مسلمانان په ځان باندې پوه قدري هم نشي او اسلام ترې بیل شوی وي، خو ختیځ کفر بیا داسلام په مقابل کې دویني توئیدنې او سرې وژنې طریقه خپلوی، مسلمانان وژني، مسجدونه او عبادتخانې ورانوی او دټولو مقدساتو سپکاوی کوی.

دکفری ځواکونو وحدت او هماهنگی دافغانستان دمسلمان آمت په روان جهاد کی ښه ترا ښکاری. کله چه روسی استعمار دافغانستان په اسلامی حریم باندی وحشیانه یرغل وکړ نو لویدیځ استعمار دخپل رقیب دسپکاوی او په سیمه کی دخپلو ګټو دخوندی ساتلو په منظور دمسلمانو مجاهدو افغانانو ملا تړ وکړ، خو کله چه روسانو دمسلمانو افغانانو له لاسه بی ساری ماتی ومونده نو لویدیځ هم داسلام په مقابل کی همغه دریځ غوره کړ کوم چه ختیځ استعمار غوره کړی وه.

اوس ختیځ او لویدیځ په ګډه داسلام او اسلامی حکومت دمخنیوی لپاره ګډی هلی ځلی کوی او داسی خنهونه را پیدا کوی چه دافغانستان دمجاهد امت په خوښه په افغانستان کی یو اسلامی حکومت جوړ نشی، دوئ دخپل دغه شوم او مذموم هدف دحصول لپاره له ډول ډول رنګونو او نیرنګونو څخه کار اخلی، خو ډیره هڅه دا کوی چه دمجاهدینو او مسلمان امت په لیکو کی بی اعتمادی، بی اتفاقی او درز پیدا کړی او مجاهد له مجاهد سره او تنظیم له تنظیم سره وجنګوی یعنی دا چه اوبه خړی کړی او ماهی پکی ونیسی.

بناءً «دافغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة» تنظیم چه یو شرعی جماعت دی او خپل ځان دقرآن او سنت پر بناء دیو اسلامی حکومت او امارت غوښتونکی او ددین احیاء کوُنکی بولی، دمجاهدینو او علماؤ او قومی خلکو دقاطع فیصلی او رأی سره سم دکونړ په آزاده سیمه کی یو اسلامی امارت تأسیس او قائم کړی او هیله لری چه نور جهادی ځواکونه او په افغانستان کی دیو ریښتینی اسلامی امارت نور غوښتونکی قوتونه به زمونږ ددغی داعیي ننګه او ملاتړ وکړی او دافغانستان په دغه محدوده او کوچنۍ سیمه کی به خپله ذمه واری سرته ورسوی ځکه چه په افغانستان کی دیو ریښتینی اسلامی امارت او نظام جوړښت او قیام دټولو جهادی ځواکونو مشترک مرام او آرمان دی او په اوسنیو پیچلو شرایطو کی ددغه مهم آرمان تر سره کول دیوه جهادی ځواک له وسعی پوره ندی، نو که اوس ټول جهادی ځواکونه دافغانستان په دغه کوچنۍ او محدوده سیمه کی خپل مکلفیت او ذمه واری سرته ونه رسوی او په دغه سیمه کی امنیت تأمین نکړی او یا په دغه سیمه کی داسلام دحاکم کیدو او نافذ کیدو په لار کی خنهونه او ستونځی پیدا کړی، نو محترم لوستونکی څه فکر کوی چه آیا په ټول افغانستان کی به دوئ داسلامی نظام دنفاذ لپاره څه مؤثر کردار اداء کړای شی ؟

هغوئ چه نن په یوه کوچنۍ سیمه کی داسلامی امنیت دتأمین په لاره کی خنهونه پیدا کوی آیا په ټول افغانستان کی به دوئ ادعاء (داسلامی حکومت تأسیس) یوه خیالی او کاذبه غوښتنه نه وی؟

دوئ فکر کوی چه اسلامی حکومت هغه دی چه ددوئ په لاس جوړ شی، ولو که هر څه وی. هغه کسان چه زمونږ دآرمان په صداقت پوهیږی او هغه کسان چه داسلامی امارت په جوړولو کی دخپل دینی مسئولیت پر اساس له مونږ سره مرسته کولای شی خو دځینو نا مشروع ملحوظاتو په اساس دهغه دجوړولو په لار کی دستونځو دپیدا کولو هڅی کوی، مونږ له دغو کسانو څخه پوښتنه کوو چه آیا دغه ملحوظات به دوئ دالله جل جلاله له نیونی څخه وژغورلای شی؟

دوئ ته د الله جل جلاله هغه فرمان ور په یادوو چه فرمائی :

«وإن أحكم بينهم بما أنزل الله ولا تتبع أهواءهم واحذرهم أن يفتنوك عن بعض ما أنزل الله اليك»(المائده /٤٩)

ترجمه: نو ای محمده! ته دالله دنازل کړی قانون سره سم ددی خلکو دچارو فیصله وکړه او دهغوئ دخواهشاتو پیروی مه کوه، پام کوه چه دا خلك تا په فتنه کی وا نه چوی ، یوه ذره قدري دي هم له هغه هدایت نه اووښتی وڼه مومی چه الله تاته درلیږلی دی.

دا چه الله جل جلاله مونږ دټولو هغو اوامرو، احکامو او دساتیرو په پیروی او سرته رسولو مکلف کړی یو چه خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ئی ارشاد فرمایلی وائی: « ومن لم یحکم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون»

(المائده/ ٤٤) یعنی کوم خلك چه د الله له نازل کړی قانون سره سمی فیصلی ونکړی هغوئ کافران دی، نو پر مسلمانانو باندی لازم دی چه دالله جل جلاله د امر دتنفیذ پخاطر په بشری ټولنه کی یو داسی حکومت تأسیس او جوړ کړی چه الهی احکام، اوامر او دساتیر دټولنی دوګړو دژوندانه په ټولو اړخونو کی تنفیذ او تطبیق کړی او هم ټول مسلمانان دا مکلفیت لری چه ددداسی حکومت ملاتړ او مرسته وکړی، څو ټول الهی اوامر او نواهی په ټولنه کی تطبیق او پلی شی.

داسلام مقدس دین چه بشری ټولنی ته دټولنیز ژوند دسمبالښت په هکله کومی لار ښودنی رالیږلی په هغو کی دحکومت تشکیل او ملاتړ هم دیوی اساسی قاعدی په توګه په خلکو باندی فرض ګرای شوی دی، یعنی اسلام هیڅکله بی نظمی او ګډوډی په رسمیت نه پیژنی او هیڅ اسلامی ډله بی امامه نه پریږدی.

نبی علیه الصلاة والسلام چه مونږ دهغه په اطاعت مأمور شوی یو، خپلو ملګرو ته داسی فرمایلی دی: «اذا نزلت ببلد وليس فيه سلطان فارحل عنه».

ترجمه: کله چه تاسو یو ښار یا یو ملك ته ورشئ او هغلته سلطان یا حاکم یا امیر نه وی ، نو ورڅنی کوچ وکړئ.

همدارنګه په یو بل حدیث شریف کی فرمائی: «واذا كنتم ثلاثة فامرو عليكم رجلاً»

ترجمه: او کله چه تاسو دری تنه یاست نو یو سړی خپل امیر وټاکئ.

په دی اساس هغه کسان چه ګمان کوی او وائی چه اسلام یوازی اخلاق او یا یوازی له الله جل جلاله سره دبنده له روابطو څخه عبارت دی او له دی څخه زیات د ژوندانه له نورو اړخونو سره لکه سیاست، اقتصاد، صنعت، تجارت، معیشیت، او نورو سره کوم کار نلری په سخته اشتباه کی لویدلی دی ، ځکه چه اسلام دالله جل جلاله له فرمودی سره سم هغه کامل دین دی چه ددنیوی او اخروی ژوندانه په هیڅ اړخ او بعد کی نیمګړتیا او نقصان نلری، که زمونږ دموجوده مسلمانانو په ژوند کی څه نواقص وینی، دا زمونږ داعمالو نتیجه ده.

لنډه داچه په کومه ټولنه کی مسلمانان اوسیږی هلته لمړی دیو اسلامي حکومت تأسیس او بیا دهغه حکومت ملاتړاو مرسته د هغه ځای داوسیدونکو مسلمانانو وجیبه او فریضه ده.

په پېښور کې د پریس کنفرانس متن:

د روان عیسوی کال د جون د میاشتې په ۱۲ نېټه د افغانستان د کنړ ولایت د اسلامي امارت د خارجه چارو مسئول ښاغلي نور محمد «مجیدي»، د اسلامي امارت د دعوت او ارشاد رئیس ښاغلي عبدالحمید «شورش» او د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة د دار الانشاء رئیس ښاغلي مولوي عبدالبصیر د کونړ ولایت د روستیو پېښو په هکله د پېښور په «دینز» هوټل کې یو اخباري کنفرانس دائر کړی وه، او ګڼ شمېر کورنیو او بهرنیو ژورنالستانو او لیکوالانو پکې برخه اخستې وه. چه متن یې په لاندې ډول دی:

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین ومن تبع هدیه الی یوم الدین امابعد؛

په افغانستان کې اسلامي جهاد د اسلامي نظام د قیام په منظور شروع شوی ؤ. او ټولو مجاهدینو د ایمان په قوت د الله جل جلاله په غیبي نصرت باندې د توکل په نتیجه کې څو کاله مسلسل مقاومت وکړ او ځای په ځائی منطقې د کفر له سلطې څخه آزادې کړې.

الحمد لله د کنړ مجاهدینو د خپل ایمان په جذبه د کفر قوت ورمات او د کنړ ولایت یې په ۱۳۶۷/۷/۲۲هـ ش نېټه په مکمل ډول آزاد کړ. په کنړ کې د ټولو جهادي قوتونو مشران او علماء او قومي مشران د خپل شرعي او اسلام مسئولیت په بناء په خپلوکي سره راغونډ شول او فیصله یې وکړه چه د یو اسلامي امارت نه پرته په کنړ کې جنګ کول د اسلا په وړاندې جهالت ګڼل کیږي، امنیت نه تأمینیږي، او شرعي حدود نشي نافذ کیدای، فلهذا په ۱۴۱۰/۳/۱۶هـ ق تاریخ ټولو مشرانو توافق او تعهد وکړ چه یوه اسلامي اداره به د اسلامي امارت په نوم جوړوو، ددې هدف لپاره په ۱۳۶۸/۱۲/۱۰هـ ش نېټه انتخابات ترسره شول او اسلامي امارت د انتخاباتو په نتیجه کې د علماؤ او قومي مشرانو له بیعت او تعهد څخه بعد قیام وموند. اسلامي امارت شرعي حدود نافذ کړل او عملاً یې د خپل خط السیر په تعقیبولو شروع وکړه او وخت په وخت په خپلو پرګرامونو کې مخ په وړاندې روان ؤ.

او د ننګرهار د عملیاتو لپاره ئې تدابیر نیول چه ځینو خود غرضو او استفاده جویو اشخاصونه یوازې دا چه خپلو تعهداتو ته وفادار پاتې نشول بلکه د اغیارو په اشارونې د امارت په خلاف دسائس او توطئې سنجول شروع کړل او خپل اسلامي مسئولیت ئې شاته وغورزاوه، د جرائمو په ارتکاب ئې لاس پورې کړ، ځای په ځائې د امارت مجاهدین شهیدان کړل، بې امنیتي او ګډوډي ئې ایجاد کړه. امارت اسلامي د خپل وظیفوي اسلامي مسئولیت په بناء د بې امنیتي د ختمولو او محاکمې ته د قاتلانو د حاضرولو اقدام وکړ چه په نیتجه کې قاتلان مفرور شول او په منطقه کې فعلا آرامي قائمه ده د آینده لپاره امارت اسلامي لاندې مطالب په نظر کې لري:

ألف- په افغانستان کې اسلامي

جهاد دقرآن او سنت دتحکیم په خاطر شروع شوی متأسفانه چه دګڼو سیاسی ډلو دموجودیت په وجه دابتداء څخه تردی حین پوری تولی آزادی منطقی، دبی نظمی بي امنیتی او ګډوډی په حالت کی ژوند تیروی. دا چه د ټول افغانستان دوضعی او حالت داصلاح کولو او نظم راوستلو توان زمونږ سره نه ؤ، نو په کونړونو کی دټولو جهادي قوتونو په ګډ تعهد سره اسلامي امارت قائم او قرآن اوسنت پکی حاکم ګرځیدلی دي.

ددی أمارت حفاظت او بقاء دټولو مسلمانانو جهادی او اسلامي فریضه ده، خصوصاً پدې لیار کی دهغو کسانو هره قرباني چه ددی امارت سره ئی شرعي بیعت کړی دی داسلامي تعلیماتو په رڼاکی جهاد في سبیل الله ګڼل کیږي.

ب- هغو خلکو او عناصرو چه دکونړ په ولایت کی دامنیت داخلال او دامارت په مقابل کی دتوطئو جوړولو په خاطر مخلص مجاهدین په شهادت ورسول او غیر حق ئی دهغوی وینی توئي کړی، اسلامي امارت مسئولیت لری چه ددغو شهیدانو قاتلان شرعي محاکمی ته حاضر کړي او په شرعي سزا ئی ورسوي.

ج- اسلامي امارت په خپل قلمروکی دټولو اوسیدونکو دانفرادی او اجتماعي حقوقو تأمینول خپله فریضه ګڼي.

د- ټول هغه مجاهدین چه خپلو جهادی سنګرونو ته درسیدلو لپاره دکونړ له لیاری څخه استفاده کول غواړي، اسلامي امارت هغوی ته دهرقسم سهولتونو دبرابرولو کوشش کوی.

هـ- هغو مهاجرینو ته چه دکونړ له لیارې خپلو ولایتونو ته تګ راتګ کوي دجهادي او امنیتي مصلحتونو په نظر کی نیولو سره سره داسلامي امارت دمقرراتو سره سم اجازه ورکول کیږي.

و- هغه مؤسسات چه دامارت اسلامي دلایحی مطابق داسلامي امارت په قلمروکی کار کول غواړي، امارت به هغوئ ته ممکنه سهولتونه برابروی.

وروسته کورنیو او بهرنیو ژورنالستانو له ښاغلی نورمحمد «مجیدي» څخه پوښتنی وکړی چه مونږ دهغوئ پوښتنی او دمجیدي صاحب ځوابونه دپوښتونکو له نومو نو پرته دمحترمو لوستونکو دخبرتیا لپاره خپروو، هیله ده چه دګرانو لوستونکو دپام وړ وګرځي:

پوښتنه: آیا دکونړ په ولایت کي دمختلفو تنظیمونو تر منځ خپل منځي جګړی به دافغانستان په روان جهاد باندی کوم منفي اثر پری نه باسي؟

ځواب: محترمو! په کونړ کی چه داسلامي امارت او کوم بل تنظیم تر منځ کومه حادثه منځ ته راغلي، حقیقت دادی چه په هغی کی اسلامي امارت یرغلګر نه دي واقع شوی، غوره داده چه په دې هکله له یرغلګرو نه پو ښتنه وشی، په هر حال، زمونږ نظر خو دادی چه اختلافات هیڅکله هم دیوی ټولني انسانانو ته عزت نه شی وربښلای.

اسلامي امارت دټولو تنظیمونو دمتحدی فیصلی په نتیجه کي منځ ته راغلي، دټولو تنظیمونو په مرسته به تکامل مومي او هدف ئی داختلافاتو ختمول، داسلامي اداري قیام او ددیارلس کلن جهاد دشهیدانو، یتیمانو، او کونډو رنډو دآرمانونو پوره کول دي.

پوښتنه : په دی حالت کی دعبوري حکومت موقف څه دی ؟

ځواب : په ټول افغانستان کی دعبوری حکومت اثر نشته، نه جهادي مراکز لري او نه کومه اداره، یو غیر مؤثر نظم دی چه فقط په پیښور پوری محدود او په کونړ کی هیڅ وجود نلري، دعبوري حکومت موافقت او مخالفت په اسلامي امارت باندی کوم مثبت یا منفی اثر نلري.

پوښتنه : آوس په کونړ کی حالات څنګه دی ؟ آیا واقعاً حزب اسلامي له کونړ څخه ویستل شویدي ؟

ځواب : دحزب حکمتیار، یوازی یرغلګر افراد له کونړ څخه ویستل شوی، چاچه په اسلامي امارت یرغل نه دي کړی، هغوئ په خپل حال په خپلو ځایونو کی اوسیږي.

پوښتنه : که په آینده کی افغانستان آزاد شی، دکونړ داسلامي امارت موقف به څنګه وي ؟

ځواب: الله تعالی دی وکړي چه افغانستان زر ترزره آزاد شي، کنړ دافغانستان یو جزدی اود

آینده اسلامي حکومت ترلاس لاندی به اداره کیږی او که دافغانستان آینده حکومت غیر اسلامي وي، دکنړ مسلمان خلك به ئي ونه مني.

پوښتنه: آیاد افغانستان په موجودو شرایطو او دهجرت پدې حالاتوکی به موجوده بی اتفاقي ګانی کفایت ونکړي چه د لا مذهبي بي اتفاقي ته هم لمن ووهو ؟

ځواب : حقیقت دادی چه په افغانستان کي جهاد دعقیدی په بناء شروع شوی، او پدی مفهوم مخ په وړاندی ځی چه ټول کفری نظریات به ختمیږی او یو اسلامي نظام به منځ ته راځی او دالله تعالی قانون او درسول الله صلی الله علیه وسلم آحادیث به تطبیقیږی، که دیته تاسو مذهبی اختلاف وائی، مونږ ورته همیشه تیار یو. دکونړ دولایت مجاهدینو ته دنورو ولایاتو دمجاهدینو دبی اتفاقیو ثمری په تجربه رسیدلی وی او په دی پوهیدلی چه دمجاهدینو ترمنځ بی اتفاقی دهیچا لپاره ګټه نلری، همداوجه وه چه دکنړ له آزادیدو سره سم نی داختلافاتو او بی اتفاقیو دختمولو په منظور دیوی واحدی اسلامي اداری دقیام اوجوړست فیصله وکړه، پاتی شوه دکنړ وروستۍ واقعه، ددی واقعی په هکله تاسو څه معلومات نلرئ، دا واقعه کومه مذهبی واقعه نده، الحمد لله دکنړ ټول خلك مسلمانان او دیوی عقیدی خاوندان دی.

پوښتنه : آیا سلفیان یوازی په کونړ کی دي که په نور افغانستان کی هم شته ؟

ځواب:سلفیان په ټول افغا نستان او ټولو تنظیمونوکی شته، هغه څوك چه دریښتیني اسلام پیروان او په خالصه توګه دیوه الله عبادت کوونکي او په قرآن او سنتو عمل کوونکي وي، هغوئ ټول سلفیان دي که په هر تنظیم او هره سیمه کی وي.

پوښتنه: خلك وائی چه تاسود سی-آی-ای ایجنټان یاست او په خلکوکی اختلافات را پیدا کوئ، دا حقیقت څنګه دی ؟

ځواب: خلك نه وائي - بلکه دحزب حکمتیار په اعلامیه کی دی ټکی ته اشاره شوی ده، اول داچه بهتره به داوی چه دابی بنیاده پروپاګنډی او افترائت پریږدو، که له دویء سره کوم ثبوت وي، ددي نن کنفرانس په خیر دي یوه غونډه دایرکړی او خلکو ته دي وړاندی کړی، مونږ اول سی-آی-ای او کا-جی -بی یوشان داسلام دښمنان ګڼو.

دوهم : داچه مونږ څنګه دسی -آی-ای ایجنتان کیدای شو پداسی حال کښی چه د سی -آی -ای دلطف اومرحمت دروازی تل دنورو پرمخ خلاصي دي او مونږه دافغانستان دجهاد په خاطر دګداګري کچکول په غاړه دنړۍ دمسلمانانو په صدقاتو او خیراتونو دجهاد سنګرونه ګرم ساتو.

په هر حال، مونږه خبره لنډه کوو او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت ژوندي کوو، هغه څوك چه بي بنیاده الزامات لګوي او دمسلمانانو اذهان خرابوي، هغوئ ته دمباهلی بلنه ورکوو اووایو چه راځئ یومیدان ته به ووځو او خلك به راټول کړو اودوه رکعته لمونځ به اداء کړو او په شریکه به دعا وکړو «څوك چه په حقه وي الله تعالی دي ورسره مرسته وکړي او څوك چه د سي- آی -اي، کا-جي - بي او یا کومی بلی کفري اداری ایجنت وي، الله تعالی دي هغوئ رسوا، تباه اوبر باد کړي.

پوښتنه:محترم« مجیدی» صاحب! تاسود حزب اسلامي غړی یاست ، آیا ستاسو رکنیت اوس هم باقی دی ؟

ځواب : زه د حزب اسلامي غړی یم، حزب اسلامي تنظیم او امارت اسلامي می حکومت دی، مګرزه له ټولونه اول، مسلمان یم او د یو مسلمان په صفت دا وایم چه پدي واقعه کی حزب حکمتیار یرغلګر واقع شوی دی چه الله تعالی پدي باندي شاهد او ګواه دی.

پوښتنه : آیا په اسلامي امارت کی نور تنظیمونه هم وجود لري ؟

ځواب: په اسلامي امارت کی دټولو تنظیمونو نمایندګان شته او په ټولو کارونو بوخت دي.

پوښتنه : مونږ اورو چه تاسو دافغانستان خلکوته مشرکان وائئ، آیا دا واقعیت دي؟

ځواب: مونږه دافغانستان خلکو

ته مشرکان ندي ویلي، څوك چه مشرکان دي، هغوته مونږنه، بلکه دالله تعالی کتاب او دپیغمبر صلی الله علیه وسلم آحادیث ورته مشرکان وائي،دازمونږد مخالفینو بي بنیاده افترائات او تبلیغات دي او پدی شکل غواړي چه دافغانستان دمسلمانو خلکو اذهان دتوحید ددعوت په وړاندې مشوش او پریشانه کړي او لدی لیاری خپلی سیاسي ګټي ترلاسه کړي، له هیڅا سره ددی ثبوت نشته چه مونږ دې چاته مشرکان ویلی وی.

پوښتنه:تاسوله(B-B-C)رادیو سره په یوه مرکه کی ویلي دي چه اسلامي امارت دشوو تعهداتو او معاهدو په نتیجه کی منځته راغلی، پدې رڼا واچوئ؟

ځواب: په کنړ کی له انتخاباتو نه مخکی دحزب اسلامي او جماعة الدعوة ترمنځ ځینی معاهدات شوي وو چه په دستاویزاتو ئی دهغوئ دمشرانودستخطونه موجود دي. په یوه دستاویز کې چه دمولوی محمد هاشم له خوا لاسلیك شویدی، ددې خبرې وضاحت شوی دی چه مونږه په کنړکی داسلامي امارت په نوم یوحکومت جوړوو چه تر درې کالو پورې به قایم وي، اداره، قضاء، امنیت، عسکري، مالي او نور نظم اوضبط به داسلامي امارت په اختیار کی وي.

دامعاهده نورمواد هم لري او دافیصله له انتخاباتو نه وړاندی شوی وه، له هغی نه وروسته انتخابات وشول، اوس زمونږ ټولو فرض دادی چه ددې معاهدې په موادو وفاء او عمل وکړو.

پوښتنه: حزب حکمتیار الزام وارد کړی چه دوئ دلغمان له لیارې په کابل باندی دلویو عملیاتو پروګرام درلود او امارت اسلامي پدې عمل سره زمونږ دحملی مخه ونیوله، پدې هکله ستاسی نظر څه دی؟

ځواب: داخبره صحیح نه، بلکه برعکس ده، ځکه لمړي دا چه که دلغمان وورونه واقعاً په دشمن باندی دحملی کول غواړي، مونږه په هروخت کی له هغوئ سره مرستی کولوته چمتو یو، دوهم داچه داالزام په هغه صورت کی صحیح ؤ چه امارت اسلامي په حزب حکمتیار باندی متعرض واقع شوي وای، حال داچه حقیقت برعکس دی یعني داچه دحزب حکمتیار دلغمان دولایت دمربوطه قومندان ناصرخان له خوا په خیوه کی د اسلامي امارت دخط اول په مجاهدینو باندی حمله وشوه چه دهغی په نتیجه کی دامارت اسلامي له مجاهدینو څخه یو نفر شهید او یو شمیر زخمیان شوي او داسلامي امارت په حدودو ئی تیری کړی، داسلامي امارت قواوی لغمان ته ندی تللي.

دکونړ دغه وروستی واقعه څو مرحلی لري چه په ټولو مرحلوکی دوئ متعرض شوي دي. لمړی مرحله دپاټك مرحله ده چه په هغی کی دوئ دامارت اسلامي دری کسه تش لاسی مجاهدین شهیدان کړل. دوهمه مرحله دسرکاڼو دولسوالی مرحله ده چه دوئ پرې حمله وکړه، دریمه مرحله په خیوه کی دامارت اسلامي دخط اول په مجاهدینو دلغمان او ننګرهار له خوا ددوئ حمله وه.

پوښتنه : پدی جګړو کی دتلفاتو اندازه په څومره وي؟

ځواب : داسلامي امارت مربوط پنځه نفره هغه وخت شهیدان شول کله چه دحزب افرادو پرې ناڅاپي حمله وکړه ، اما دحزب دتلفاتو شمیر مونږ ته ندی معلوم ځکه چه هغوئ دپاکستان سرحدوته نژدې پراته وو.

پوښتنه: خلك وائي چه سعودي عرب په مجاهدینو کی اختلافات پیداکوي، پدی هکله ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: زه تعجب کوم، داڅنګه امکان لري؟ دافغانستان په جهادکی خود سعودي خلکو او حکومت زیات کومکونه کړي دي او پدې قرباني کي ئی له هر چا نه زیاته ونډه اخیستي ده، ځوانان ئي شهیدان شوي مالي مرستی ئی کړي او اوس هم دهغوئ مرستی دافغا نستان له جهادي تنظیمونو سره جریان لري او هغه خلك د هغوئ لدی مرستو څخه زیات مستفید شوی کوم چه وړباندی دا الزام لګوي. له دی نه علاوه کله چه په پیښور کی عبوري حکومت جوړ شو او حکمتیار دهغه دخارجه چارو وزیرؤ، دی اولنی سړی ؤ چه دسعودي دحکومت له خوا ورته دعوت ورکړ شو او همدا دسعودي حکومت ؤ چه تر ټولو دمخه ئی دغه عبوري حکومت په رسمیت وپیژانده.

پوښتنه : ویل کیږي چه په کونړ کي داسلامي امارت جوړښت دهغه ولایت دمجاهدینو لپاره دنفاق سبب

پاتی ۲۸ مخ کی

تشکیلات اداری در مناطق آزاد یک ضرورت مبرم است

کتله های بشری خواه به هر کیش و مذهبی متعلق باشند، برای انسجام امورات زندگی اجتماعی خویش به تشکیلات و اداره سالم و منظم منطبق به ایدیالوژی و فرهنگ به خصوص خود ضرورت مند اند، زیرا که سازمان دهی و تشکیلات در پیشبرد و بارورشدن اهداف اجتماعی نقش ارزنده و انکار ناپذیر داشته و اکثر پیروزی ها و فتوحاتی هم که برای گروه های بشری در ادوار مختلف تاریخی دست داده، نتیجهٔ موجودیت تشکیلات سالم و سازنده بوده است، بناء برای جماعات بشری ممکن نیست که بدون داشتن تشکل واداره، مردم و آرمان عقیدتی و فکری خود را در عرصه عمل پیاده نموده و از دست آورد های آن به نحو احسن در تعین سرنوشت خویش استفاده نمایند.

درین رابطه اسلام منحیث یک دین جامع و کامل و جواب گوی تمام نیازمندی های دنیوی واخروی بشر، نه تنها نسبت به هر مکتب و ایدیالوژی دیگر، بیشتر به امر تشکل و اداره سالم اجتماعی تاکید دارد، بلکه جهت فراهم نمودن اساس مستحکم برای ایجاد نظم اجتماعی، دربین جماعت کوچک سه نفری هم تعین امیر را لازم قرار داده است، تا در نهاد امت اسلامی، انگیزه ایجاد تشکل و اداره به صورت تکامل یافته آن تحقق یابد. چنانچه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده اند:

«اذا خرج ثلاثة فی سفر فلیومروا احدهم»

(رواه ابوداؤد)

لهذا اگر جماعتی از مسلمانان در خطهٔ ئی زندگی اجتماعی داشته باشند، ایجاد تشکیلات اداری و تعین امیر دربین شان امر کاملا ضروری وهم آهنگ بامقتضای شریعت است، چه در غیر آن واجبات دینی مثل امر به معروف ونهی از منکر، جهاد، عدل، اقامه حج، اعیاد، حدود وغیره جز از طریق امارت اسلامی برآورده شده نمی تواند، روی همین ملحوظ، اداره و کنترول منظم مناطق مفتوحه کشورما که به یمن ایمان مجاهدین دلیر و مسلمان و معاونت و از خود گذری بیدریغ ملت شهید پرورما، از تسلط زمام داران ملحد و پیروان کوردل شان، یکی بعد دیگر آزاد گردیدند، مستلزم تشکیل واحد های اداری منظم اسلامی بود، تا از یک طرف راه حل مشکلات و تنازعات محلی مردم و تربیه وتعلیم سالم و اسلامی فرزندان شان مهیا میگردید. **و از جانب دیگر بنیاد اساسی برای تشکیل یک دولت الگوی اسلامی که خواست فرد، فرد ملت مسلمان کشور ماست، فراهم میشد.**

مگر متاسفانه در گذشته ها، درین رابطه اهمال صورت گرفته و از طی سال ها به این سو، باوجود آنکه مناطق زیادی تحت تصرف مجاهدین قرار داشت، آرمان تشکیل ادارات منظم اسلامی

آماج کشمکش ها و تنازعات بی مورد و نابجای گروه های جهادی قرار گرفت. و سرانجام همین تلاش های انفرادی برای حصول اقتدار، منجر به در گیری های منطقوی وازهم پاشیدن نظم و هم آهنگی بین افراد منطقه گردید، که حوادث ناگوار ناشی از آن، از نظر هیچ کسی پوشیده نیست. در حالیکه الله متعال ضمن آنکه باهدایات روشن مسلمانان را برتحکیم وحدت حکم نموده و موقف و جهت گیری شانرا در رابطه به حل تنازعات شان بیان داشته است، از نتایج خطریکه از ادامه نفاق و کشمکش دامن گیر شان می گردد، نیز آگاه نموده است، چنانچه می فرماید:

«واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولاتفرقوا»

(آل عمران آیة ۱۰۳)

ترجمه: و چنگ افگنید برسز الله (قرآن و سنت) همه ئی شم وپراگنده مشوید.

همچنان: «فان تنازعتم فی شیئ فردوه الی الله والرسول ان کنتم تؤمنون بالله والیوم الاخر، ذلک خیر واحسن تأویلا»

(نساء آیة ۵۹)

ترجمه: پس اگر در بین شما در مورد امری اختلاف پیدا شود، محول کنید آنرا به سوی الله ورسول، اگر براستی ایمان دارید به الله و روز رستاخیز، این روش بهتر و نیکو تراست و به اعتبار انجام هم پسندیده است.

جای دیگر میفرماید:

«یایهاالذین آمنوا اذا لقیتم فئة فاثبتوا واذکروا الله کثیراً لعلکم تفلحون. واطیعوا الله ورسوله ولاتنازعوا فتفشلوا وتذهب ریحکم واصبروا ان الله مع الصبرین.»

(الانفال - ٤٥ - ٤٦)

ترجمه: ای مومنان! چون روبرو شوید باگروهی (از کفار) پس ثابت قدم، باشید و یاد کنید الله را بسیار، تا شما رستگار شوید، وفرمان برداری کنید الله ورسول او را و بایکدیگر نزاع نکنید که درین صورت بزدل می شوید و ضایع می شود دولت و قوت شما و صبر کنید، به تحقیق الله باصابران است. هنوز هم فرصت از دست نرفته و ضرورت تشکل واداره منظم و واحد در داخل مناطق مفتوحه از گذشته بیشتر گردیده است، به خصوص که درین آواخر دشمنان سوگند خورده اسلام و به نحو منظم تر و باکمال جدیت و تلاش جهت حصول اقتدار سیاسی افغانستان برای نوکران حلقه بگوش خود، بیشتر از پیش به تلاش افتاده و با استعمال حربه های شیطانی درتشدید اختلاف و ایجاد ضعف در صفوف مجاهدین وارد عمل گردیده اند، تا هرچه زود تر، زمینه را برای بارآوری اهداف شوم خود عیار سازند.

بانظر داشت این نکات برمسئولین جهاد لازمی است، تا مصالح و مفاد عارضی و شخصی خود را کنار گذاشته، بخاطر استحکام و ثبات جهاد و تحفظ دست آورد های جهاد اسلامی که در طی دوازده سال و در نتیجه قربانی یک و نیم ملیون شهید، هزاران معلول و ویرانی کشور بدست آمده، در روشنی ارشادات رب متعال و آحادیث پیامبر بزرگوار اسلام صلی الله علیه وسلم، شوراهای مشترک تشکیل نمایند. و باوحدت و هم آهنگی کامل به استقرار ادارات اسلامی در مناطق آزاد، گام های عملی بردارند تا از یک طرف امر ولایت که از واجبات دینی و متضمن

اسلامی امارت

دا چه نن ښکاری د سمون نخښه ده
هغه منزل ته دا د تلون نخښه ده

نن د اسمان شفق مسکی غوندی دی
جوړ راڅرګند د صباون نخښه ده

دا کوم مینار د آزادی چه وینی
د مجاهد د سور لړمون نخښه ده

مونږ چه د کوم آرمان خوبونه لیدل
دا هغه ژوند ته د بیون نخښه ده

دا هغه غیږ وه چه آرزو وه زمونږ
مونږه ته دا د پیوستون نخښه ده

جدا جدا په لاره ولی درومو
مونږه کښی کومه د بیلتون نخښه ده

راځی ددی امیل ګلونه شو ټول
دا چه الحاد ته د طاعون نخښه ده

دا اوس بیرغ چه د اسلام پری رپی
دا د غازیانو د پاڅون نخښه ده

په اتحاد چه کوم لاسونه یو شی
د دښمنانو د ځپون نخښه ده

د مقصد غشی هیڅ په بله نه ځی
لکه لیلی ته چه مجنون نخښه ده

که هر څو بیل په بیلو لارو درومو
پوه شی چه دا مو د ورکون نخښه ده

دی ډیرو لارو ته حیران غوندی یم
«افسوسه» دا د ځیګرخون نخښه ده

ډاکترل، م، «افسوس»

شهیده!

قابل د قدرو احترام شهیده
ای سرنشتاره د اسلام شهیده

ستا د راتلو په انتظار کښی اوسی
درته دی حوری لاس په نام شهیده

دغه نعمت د آزادی چه نن دی
دا ستا په وینو را انعام شهیده

د دهریت لمن دی توله کړله
مات کړلو تا دهری نظام شهیده

دا ستا له وینو حریتونه زیږی
وی اسیرانو ته پیغام شهیده

د کمونیزم جنازی دی وکړی
ورته دی ورکړو اختتام شهیده

ویده راپاڅیدل روان شولو ویښ
ورته په صف کښی شوی امام شهیده

په کومه لار چه تا قدم ایښی دی
زما هم دغه دی اقدام شهیده

څومره چه قدر دی زما زړه کښی دی
هومره «افسوس» کوم سلام شهیده

د ډاکتر لعل محمد «افسوس» له قلمه

د وهابیت اصطلاح چا را منځ ته کړه؟!

دکنړ اوسنی پیښی نه وروسته د حزب اسلامی نشراتی ارکان (شهادت) داسلامی امارت په مشر الشیخ جمیل الرحمن پسی بی بنسټه تورونه لګولی او د اهل حدیثو دمسلك پر خلاف ئی ناوړه پرو پاګنډه پیل کړی ده . ددی پر ځای چی د کنړ پیښه د اسلامي شریعت پر اساس فیصله کړی؛ اختلافاتو ته ئی دومره پراختیا ورکړه چی له سپکو سپورو نه یی نه خو داسلامي امارت مشر الشیخ جمیل الرحمن خوندی پاتی شو، نه داهل حدیثو مسلك اونه یی علماء .

دشهادت ورځپانی ښاغلی مدیر ته ځرګنده ده چی اهل حدیث، اهل السنت والجماعت او د اسلامي نړۍ په کرنو هیوادونو کی په ګڼ شمیر استوګن دي. په عربي نړۍکی خو زیات شمیر مسلمانان د اهل حدیثو د مسلك (قرآن اوسنت) بلندویان (داعیان) دي او دسلف صالحینو تګلاره یی غوره کړیده.

مونږ دقرآن او سنتو په هکله د صحابه ؓ رضی الله عنهم تفسیراو تعبیر معتبر ګڼو او ټول امامان د مسلمانانو محسنان بولو ، امام ابو حنیفه، امام شافعی، امام مالك، امام شافعی او امام احمد بن حنبل رحمهم الله د قرآن ، حدیثو او فقهی په برخه کی ستر خدمتونه سرته رسولی دی، دغو ځلور واړو امامانو دقرآن او سنتو دتشریح،تفسیراو تعبیر په مورد کی دصحابهء کرامو اقوالوته هڅه کوله او غوره یی ګڼلی وو. په تاریخ کی دقرآن او حدیثو په هکله همدغه مسلك داهل حدیثو اوسلفیت په نوم مشهور دي، دقرآن او سنتو په همدغه کاروان کی دمسلمانانو ټول درانه او ښاغلی امامان او پوهان شامل دی. په اوولسمه پېړۍکی ددغه مسلك نامتو پوهان داسلامي خدمتونو له کبله په ګرده اسلامي نړۍکی پیژندل شوي دي، په عربی نړۍکی شیخ محمد بن عبدالوهاب «نجدی»، په بر صغیر کی شاه ولی الله الدهلوی، سید احمد شهید بریلوی، شاه اسمعیل شهید او شیخ محمود الحسن د پوره شهرت خاوندان دي. کله چی داسلامي نړۍدمطلق العنان پاچاهانو د بی پروائی او عیاشی له امله مسلمانان د تنزل ښکار شول، نو له مصرنه یی را واخله تر هندوستان پوری ټول د اروپایی ښکیلاك مریان شول. د مسلمانانو کومې سیمې چی د انګریزانو له تسلط نه آزادی وی، پر هغوئی هم بیلا بیلی حربی د هغوی د مریی کولو لپاره په کار واچولی. لنډه دا چی ټوله اسلامي نړۍ د انګریزي ښکیلاك په زرنځه کی ونښتله، په تیره بیا په منځنی ختیځ کی دعربو پر خلاف اروپایی ځواکونو ګډه شیطانی پالیسی غوره کړه. دترکیی خلافت یی داروپا لپاره دیوساری ناروغ په حیث وګاڼه؟ او اروپایی ملتونه د مسلمانانو د وسایلو د لوټولو لپاره د هغوئ پر ټول قلمرو باندی خواره شول، دا مهال نه یوازی دا چی دمسلمانانو سیاسی او اقتصادی حالت ګډ وډ او ویجاړ شو، بلکی له سیاسی او اقتصادی ځوړ تیا سره سره د جاهلی دودونو، شرك، بدعتونو او مذهبی انحطاط ښکار هم شول. په دغسی حساس وخت کی د عربو په خاوره کی محمد بن عبدالوهاب «نجدی» را پیدا شو. نوموړی دعلم تر تحصیل وروسته دمسلمانانو حالت دقرآنی تعلیماتو او اسوهء رسول الله صلي الله علیه وسلم په رڼا کی وڅیړله. تر ټولو دمخه یی دمسلمانانو د عقیدی دسمون او په هغوی کی دجهاد د جذبی د پیدا کولو اراده وکړه. له شرك او بدعتونو څخه یی د اسلامی ټولنی دسپیڅلتیا په غرض ژبنی او لیکنی (تحریری) تبلیغ پیل کړ او د جهاد دولولی دڅپاندولو لپاره یی دانګریزانو پر خلاف جهاد ته ملا وتړله. دمحمد بن عبدالوهاب «نجدی» مجاهدین به چی دانګریزانو پر خلاف په کومه میړانه جنګیدل، نو مکار انګریزان له ورایه په دې پوهیدل چی که مسلمانان د توحید له خالصی ګروهی (عقیدی) سره په وسله سنبال دجهاد ډګرته ورودانګی ، نو بیا نه هغوی ددښمن له کثرت څخه ویریږی او نه ددښمن له جنګی وسایلو څخه، بلکی دالله جل جلاله غیبی ځواکونه دمؤمن په حال شاملیږي او بیا یی نو هیڅکله څوك نشي تسخیر ولای .
انګریزان په دې حقیقت پوه وو چی مسلمانان شهادت ته پر ژوند ترجیح ورکوی او دا ویره ورسره وه چی که د شیخ محمد بن عبدالوهاب «نجدی» دقرآن او سنت دبیا ژوندانه او جهاد تحریك په اسلامي نړۍکی خپور شي، نو د مسلمانانو پر قلمرو به دانګریزانو دحکمرانۍ خوب رښتیا او تر سره نه شي. له دې امله یی دمحمد بن عبدالوهاب

دتحريك او افكارو دمخنيوى لپاره خپل هر راز وسايل په كار واچول او د خپلو باورى نمايندگانو په مرسته يى دپرو پاگنډى پراخ جال خور كړ او د قرآن اوسنت پيغام او د سلف صالحينو دغه كړنلار يى د«وهابيت» په نامه وبلله. كله چى انگريزانو په اسلامى نړۍ كى په هره سطحه يوه داسى بى وجدانه طبقه پيدا كړى وه چى دهغې په مرسته د مسلما نانوپرځمكه انگريزى ښكيلاك تقويه شو او دمحمد بن عبدالوهاب «نجدى» تبليغى او جهادى مقصد دهمدغو ځانپلورو په زريعه «وهابيت» وبلل شو او تر اوسه پورى ځينى لنډ فكرى مسلمانان داسلام په تاريخ كى د انگريزى ښكيلاك د مكروب له تشيخص نه پرته د هغوئ اصطلاحات استعمالوى او د اد مسلمانانو لپاره يوه ډيره لويه غمجنه پيښه ده.

په همدې توگه اوس يهودانو او غربى مفكرينو او پوهانو اسلامي گوندونو ته د بنياد گرايانو اصطلاح په كار اچولى ده او د مسلمانانو نوى طبقه داسلامى حميت له محسوسولونه وراخوا، دلويديځ په پيښو، پر اسلامى ادارو باندى د هماغوى داصطلاح غيشى گوزاروى، هوبه هو په همدې ډول د انگريزى ښكيلاك پر خلاف جنگيدونكى مجاهدين د انگريزانو له خوا د «وهابيانو» په نوم نومول شويوو، خو مسلمانان په داسى درانه خوب ويده دى چى تراوسه پورى لا د پرديو په چال نه پوهيږى . انگريزانو چى دعربو پر ځمكه دمحمد بن عبدالوهاب «نجدي» دمجاهدينو په مقابل كي كومه ترخه تجربه درلودله ، همدغه ويره وه چي كله سيد احمد شهيد له حج نه بيرته راغى او په برصغير كى يي دمسلمانانو تر عسكري تنظيم وروسته دجهاد اعلان وكړ، نو انگريزي جاسوسي شبكى حكومت ته رپوټ وړاندى كړ چى سيد احمد شهيد په مكه كى له «وهابي» تحريك سره ليده كاته كړيدى او دهماغوي په خوښه يي جهاد پيل كړى دى؛ په دى لړ كى په بنگال او هندوستان كى گڼ شمير علماء گرفتار شول او په جيلو نو كى تر سختى څارنى لاندى وو؛ يوه انگريز آفسر په خپل رپوټ كى وليكل چى دغه «وهابى» علماء خورا ډير متقيان او پرهيزگاران دي، هر ځومره تكليف چى هغوي ته وركوو او ځورويى بياهم دجهاد له ملاتړ څخه لاس نه اخلي.

كله چى جهاد په اسلام كي لوړه مرتبه او مقام لري او كفري ځواكونو ته هم څرگنده ده چى دشهادت ولوله هغه ولوله ده چى دهغى له امله هيڅكله مسلمان له ماتى او شكست سره ندى مخامخ شوي او جهاد دمسلمان ملت ژوند دي.

اوس هم په اسلامي نړۍكى داسلامي تحريكونو د بد نامي لپاره نه يوازى دا چى هغوى ته د «بنيادگرايانو» اصطلاح استعمالوى، بلكى دامريكى پخوانى رئيس «نكسن» پخپله دروسانو د خبرتيا لپاره ماسكو ته تللى ؤ، تر څو هغوئ په دې وپوهوى چى په اسلامي نړۍكى داسلام د بيا ژوندانه او بيدارى څپى غورځنگونه وهي. په دى توگه امريكى او روس دهغوئ پر خلاف گډه كړنلاره غوره كړه.

داسلامي نړۍ پر خلاف دروس او امريكي دگډي تگلارى اثر او فكر دهغوئ له هغو منصوبونه ښه څرگنديدلاى شي چي وخت په وخت يي دافغانستان د مسئلى دحل په باره كى په مختلفو شكلونو سره دمجاهدينو په مقابل كي وړاندى كوى . داسلامي تحريك پر خلاف دكفر تگلاره همدغه دمكر او فريب روغه جوړه ده چي غواړي دمسلمانانو ترمنځ مذهبي كركه پيداكړي او دهغوئ ليكى (صفونه) كزورى كړى.

داسلامي نړۍ هغه شخصيتونه چى د رڼا څلى دى، دهغوئ پر خلاف د نفرت خورولو به سبب غواړى چى مسلمانان دهغوئ له ښيگڼو او بركتونو څخه محروم او بي برخى كړى.

«شكسپير» چى صرف يو ډرامه ليكونكي ؤ، هغه اوس په اروپا كى دژبنى او ادبى خدمتونو په سبب د «ديوتا» درجه لرى ، خو اسلامي نړۍته الله جل جلاله دهغوئ دعزت لپاره بي نهايته باعمله پوهان او سپيڅلي هستيې ور بخښلى دى، مگر مونږ خپل دغه ستر شخصيتونه د پرديو دساز شونو له كبله د نزاع وړ گڼلى دى. انگريزانو به دعربو پر ځمكه د ځان پر خلاف جنگيدونكي مجاهدين «وهابيان» بلل، دشاه ولى الله الدهلوى كورنۍ او دسيد احمد شهيد تحريك يى « وهابي» تحريك باله. په همدى توگه كله چى مولوى جميل الرحمن په افغانستان كي دالحاد او بدعتونو پر خلاف ژبنى او تحريري جهاد پيل كړ او دوخت دحكومت پر

سیاست یی انتقاد وکړ، نو له ظاهر شاه نه یی را واخله تر نجیب پورې ټول هغه ته «وهابی» اودپاکستان نماینده وایی. اوس امریکایی او روسي استعمار لګیا دي افغان مجاهدین (چی دهغو په وړاندی خنډ واقع شوي دي) او داسلامي نړۍ نور تحریکونه دبنیاد ګرایانو په اصطلاح بدناموی . به همدی ډول که اوس داسلامي تحریك کوم بلندوی (داعی) او یا اسلامي اداره دتیری زماني مهم شخصیتونه او نیکان را پیژني او وائی چی هغویَ پر حقه وو، نو د شخصي اغراضو له مخي پر هغویٔ باندی بی اساسه تورونه او تهمتونه لګوی. نه پوهیږم چی د قیامت په ورځ به دویٔ دالله تعالی په وړاندی ددغو سترو شخصیتونو پر خلاف دلګول شوو تورونو په ځواب کی څه وړاندی کوی؟

دکنړپیښه یوه بد مرغی او ددښمن دوکه وه چی مجاهدین پکی را ایسار شول، خو الحمد لله شکر دی چی دقرآن او سنتو روښنایی موجوده ده او دا د الله تعالی حکم دی چي کله دمسلمانو ډلو تر منځ مخالفت پیدا شي نو الله او دهغه رسول ته یي راجع کړي او مؤمن هماغه دی چی دالله او د هغه د رسول په فیصلو په خپل زړه کی تنګسیا محسوسه نه کړي.

د نوموړی پیښی په هکله یی مخالفت ته دومره پراختیا ورکړه چی له ملا متیا څخه یي نه داهل حدیثو غوندی حقاني مسلك بچ پاتي شو او نه شیخ محمد بن عبدالوهاب غوندی داسلام ستر عالم. نوموړی عالم د شرك، بدعتونو او انګریزانو پر خلاف په خپل ټول ژوند کی جهاد کړی دی او دتوحید دعقیدي دڅرګندولو لپاره یی دقرآن او سنتو په رڼا کی له خپل ټول وس واك نه کار اخیستي دی.

دافغانستان مسلمانانو ته څرګنده ده چی الشیخ جمیل الرحمن دحق له علماؤ سره اړیکي لري. تر دی وخته پوری هیچا د توحید دعقیدی په برخه کی ښوولني د اصلاح لپاره سوچ او فکر نه ؤ کړي ، په همدغه وخت کی الشیخ جمیل الرحمن دافغانستان پوهانو ته دامت مسلمه په نوم تنظیمی بڼه ورکړه او د افغانستان په ګرده فضا کي یي دتوحید دعقیدی پلوشي خوری کړی او له جاهلي نودونو، شرك او بدعتونو څخه یي دمسلمانانو دلریوالي او ځان ساتنی تلقین کاوه. دشیخ جمیل الرحمن شخصیت له هر پلوه بي خاپه او یو با عمله عالم دی، پخپله مجاهد او دمجاهدینو لارښود دی، دیتیمانو او کونډو رنځو سر پرست دی؛ دهماغه هلي ګلی دی چی دافغان جهاد یو بڅری هم له اسلامي اصولو نه بیلاری شوي نه دی، په افغانستان کی چی هر ځای دکمونستانو له تسلط نه آزاد دی، هلته دناوړه نودونو پر ځای دمسلمانانو ژوند تر اسلامي شریعت لاندی منظم شوی دی. داځکه چی په آزادو سیمو کی داسلامي ادارو د قایمیدو له امله مجاهدین سره یو شوی او سنګرونه یی ټینګ کړي دی.

الشیخ جمیل الرحمن دکنړ داسلامي امارت له خوا په ترتیب شوي غونډه کی چی دباجوړ په ښار کی وشوه، دشهادت دورځپانی تورونه یی رد کړل او ویی ویل : که زمونږ دغه مخالف ورونه د زړه له کومي په دی باوړه وی چی هغوی کوم تورونه دجماعة الدعوة الی القرآن والسنه پر مسلك او اسلامي امارت باندی تپی، هغه دحقیقت پر بنسټ ولاړ دی ، نو په کار ده چی دغه لانجه اسلامي شریعت ته وړاندی کړی او که اوس نه وی نو هر کله چی دویٔ ته دا محسوسه شی چی ددغی لانجی اوږدول نه بلکي حل یی په کار دی. مونږ داسلامي شریعت په رڼا کي د هری قضیی دحل کولو پر دریځ او موقف ټینګ ولاړیو.

پاتی پریس کانفرانس :

ګرحیدلی دی، پدی باب ستاسو نظر څنګه دی ؟

ځواب : د الهي نظام مخالفین او دشیطاني نظام غوښتونکی همیشه خپلی شیطاني منصوبی او توطئي جوړوي، که نه نو اسلامي نظام به څنګه دنفاق سبب شي ؟ څوك چه ځان ته مؤمن او مسلمان وائي، هغه به څنګه داسلامي نظام مخالفت وکړي. نفاق خو په هغو ولایاتوکی وي چه هلته هر قومندان خودمختار او ځانته ځانته پادشاه وي، دلته خو ټول مجاهدین او عوام خلك داسلامي امارت تر بیرغ لاندی راټول او دالله تعالی تر قانون لاندی ژوند تیروي، ته پخپله قضاوت وکړه چه دلته نفاق موجود دی که په نورو ولایاتوکی؟

والسلام

هغه قوم چه هر څه لري خو اتحاد نه لري

د بشری تاریخ په اوږدوکښی چه کومو قومونو د خپلو ذاتی او شخصی ګټو په خاطر ټولنیزی ګټی تر پښو لاندی کړی او د خپل ذاتی اقتدار د خوندی ساتلو په منظور یی له الهی ارشاداتو او حدودو څخه سرغړولی دی، هغه قومونو، نه یوازی دا چه په انسانی تاریخ کښی کوم عزت او وقار ندی ګټلی، بلکه د الهی قهر او غضب په اثر د ځمکی له مخ څخه محو شوی او د تاریخ توری کندی ته سپارل شوی دی.

قرآنکریم مونږ ته د ډیرو داسی امتونو قصی بیان کړی چه د خپلی سرکشی، او سرغړاوی لامله د هستی له صفحی څخه لیری شوی او د بدو عواقبو یادونه یی زمونږ د عبرت لپاره شوی چه باید په غوږلو سترګو ورته وګورو.

د افغانستان مظلوم او شهید پالونکی امت چه له یونیم میلیون څخه د زیاتو شهیدانو په نذرانه کولو سره د روس ملحد طاقت له خپل سپیڅلی حریم څخه په ډیری بی شرمی سره سروهلی بروهلی وایست او نن له اندرونی عدم استحکام او لوږی، تندی سره مخامخ او د سوپر طاقت والی نشه یی له سر څخه الوتی ده، خو د روس ګوډاګی او مزدور نجیب لا ستاسو د غیرشرعی تنظیمی مشرانو د نفاق او بی اعتمادی او تربګنی له کبله، زمونږ د ټولو مسلمانانو لپاره پیغور جوړ شوی دی.

د افغانستان د مسلمان ولس بی ساری سرښندنی خو د روس

مجاهدینو ورونو!

د افغانستان د کونړونو اسلامی امارت هیله لری چه د اسلامی عظمت تاریخ او د ټول بشریت د نیکمرغی تاریخ د افغانستان د مجاهدینو له سنګرونو څخه ولیکلی شی.

سورګاړی تیښتی ته مجبور کړ، خو د دوی د تنظیمونو مشران به یو ځای ناستی او یو بل ته د ورورۍ لاس ورکولو او اتحاد ته څوک مجبور کړی؟

مجاهدینو ورونو! ستاسو جهاد په ریښتینی معنی سره د حق او باطل ترمنځ جګړه ؤه او ده، ستاسو جهاد د توحید او الحاد ترمنځ مبارزه وه او ده، ستاسو جهاد د ټولی نړی د مظلومو ملتونو د فتحی او بریالیتوب جهاد ؤ او دی، ستاسو جهاد د

اسلامی عظمت جهاد ؤ اودی، ځکه نو د دنیا ټولو مسلمانانو (که عرب ؤ، که عجم، که تور پوستی ؤ که سپین پوستی) ستاسو جهاد خپل جهاد وباله او په دی فی سبیل الله جهاد کښی یی د خپل توان په اندازه برخه واخیسته او دا قرآنی حقیقت یی دنیا والو ته په اثبات ورساوه چه ټول مسلمانان یو واحد امة او ټول کفر یو واحد ملة دی. د شهیدانو په تاتوبی (افغانستان) کښی د پاکستانی مجاهد وینه توپی شوه، د سعودی، کویټ، ایران، مصر، الجزایر، سودان، اردن او نورو اسلامی ملکونو مسلمانان څوک په مالی او ځانی قربانیو سره ستاسو تر شا ودریدل او څوک په ژبی او قلم سره ستاسو د جهاد کارنامی ثبتوی او ویاړی چه ستاسو غازیانو په خدمت کښی دی.

مجاهدینو ورونو! کله چه روسی پوځونه وتښتیدل، ستاسو قیادتونو په نړی واله سطحه دا اعلان وکړ: «چه د افغانستان 95% مځکه د مجاهدینو تر کنترول لاندی ده، د مجاهدینو عبوری حکومت به ډیر ژر د افغانستان په داخل کښی په خپل کار پیل وکړی، مجاهدین د کابل د مزدور رژیم د نسکورولو او سقوط لپاره د عمل گډ پلان جوړوی، مجاهدین اوس د آزاد اسلامی افغانستان په درشل کښی دی»، خو د څه باندی دوه کالو په تیریدو سره، نه یوازی دا چه په عمل کښی هیڅ پرمختگ ونه شو، بلکه ستاسو په نوم رهبرانو، ټول مجاهدین ناامیده کړل، د افغان جهاد مرستیال انصار ورونه یی هک پک او حیران کړل، د نړی مسلمانان یی په گومگو کښی واچول، انصار یی د نجیب او روس د ملگرو د خندا او ملندوکړل، د نړی والو پام یی د افغانستان له مسئلی څخه بلی خواته واړوه، په بین المللی سطحه یی د افغانستان مسئله د هیرولو خواته کش کړه، د استعمار اجنټانو ته دا پلمه پلاس ورغله چه ستاسو جهاد ته د روس او امریکی پالیسی ووائی او حال دا دی چه دواړه استعماری طاقتونه نن ستاسو د اسلامی حکومت د جوړیدلو په خلاف یوه خو له او په یوه لار روان دی، د کشمیری مسلمانو مجاهدینو قاتل

نن د افغانستان د گونړونو اسلامی امارت د سپیڅلی شرعی قانون په نفاذ سره په منطقه کښی امن قائم کړی، ټول معاملات او تعلقات د اسلامی شریعت په بنیاد سرته رسیږی.

(هندوستان) نن له دغو ناوړو حالاتونه په استفادی سره د افغانستان د جهاد د ثمرو د تس نس کولو لپاره لگیادی له نجیب او ظاهر شاه سره سازشونه کوی.

مجاهدینو ورونو!

کفری ځواکونه په افغانستان کښی د اسلامی حکومت د قیام په خلاف سازشونه کوی او اسلامی نړی د استعماری او استکباری

د افغانستان د مسلمان ؤلس بی ساری سرښندنی خو د روس سورگارد تیښتی ته مجبور کړ، خو د دوی د تنظیمونو مشران به یو ځای ناستی او یو بل ته د ورورۍ لاس ورکولو او اتحاد ته څوک مجبور کړی؟

ځواکونو د فریب او نیرنګ په رنګ رنګ جالونو کښی نښتی او نفسی نفسی ناری وهی.

بلی خواته د روسی استعمار بریځی او د مسلمانو افغانانو قاتل نجیب د اقتدار په کرسی ناست بیله دی چه د خپلی توری او شومی آیندی په باب فکر وکړی، د جهادی قیادتونو د بی اتفاقی په نتیجه کښی خپله منحوسه واکمنی محفوظه ګنی او خپلو نوکر صفتو انډیوالانو ته دا ډاډینه او تسلا ورکوی چه اوس نو د بی اتفاقو مجاهدینو لاسونه ستاسو ګریوانونو ته درسیدونډی. پوه شی چه ستاسو بی اتفاقی د استعمار کامیابی او د جهاد ناکامی دی.

بلی خواته د روسی استعمار بریځی او د مسلمانو افغانانو قاتل نجیب د اقتدار په کرسی ناست بیله دی چه د خپلی توری او شومی آیندی په باب فکر وکړی، د جهادی قیادتونو د بی اتفاقی په نتیجه کښی خپله منحوسه واکمنی محفوظه ګنی او خپلو نوکر صفتو انډیوالانو ته دا ډاډینه او تسلا ورکوی چه اوس نو د بی اتفاقو مجاهدینو لاسونه ستاسو ګریوانونو ته درسیدونډی. پوه شی چه ستاسو بی اتفاقی د استعمار کامیابی او د جهاد ناکامی دی.

په افغانستان کښی وسیع البنیاد حکومت جوړول او غربی دوله جمهوریت راوستل د استعمار بریالیتوب او د جهاد د ناکامی په معنی دی، ظاهر شاه او ظاهر شاه پرستو مجرمانو او نورو لادینو عناصرو ته د مجاهدو افغانانو د سرنوشت سپارل، د افغانستان د مسلمان امة په تعقل او جهاد پوری ټوقی او مسخری دی.

مجاهدینو ورونو!

د بشریت د لارښود محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی لار ښوونی ته شه ځیرشی چه فرمائی: «مؤمن له یوی سوری څخه دوه ځله نه چیچل کیږی» خدای دی وکړی چه مونږ د ۱۹۱۹ م کال د پیښو په ځیر د کفری ځواکونو ښکار نه شو پدی بناء له ځانو سره ژور فکر وکړی چه:

۱ ـ ستاسو د جهاد هدف او مقصد څه ؤ؟ آیا تاسو مطمئن یاست چه د افغانستان په راتلونکی کښی به ستاسو لیکی تریوی قوماندی لاندی خپل فرض سرته ورسولای شی؟

۲ ـ په نړی کښی د استعماری ځواکونو ارادی څه دی؟ او د هغوی په خلاف ستاسو موقف څه دی؟

۳ ـ د نړی مسلمانانو چه زمونږ د جهاد ملاتړ کړی او اوس یی زمونږ د بی اتفاقی په اساس توجه ګرځیدلی، هسی نه چه یوازی پاتی نه شو، خدای ناخواسته زمونږ جهاد له ناکامی سره مخ نه شی؟

د کونړونو اسلامی امارت بیله هر ډول تبعیض څخه د قرآن او سنت د هدایت په رڼاکښی د ټولو مجاهدینو ورونو په خدمت کښی دی چه خپلی تجربی ورسره شریکی کړی.

۴ ـ تاسو په خپل دیارلس کلن جهاد کښی دا معلومه کړی چه ستاسو دوستان او دشمنان څوک دی؟

۵ ـ تاسو آزاد او استزمی

افغانستان غواړی، که آزاد خولادینه افغانستان؟

٦ ـ ستاسو د ملت بریالیتوب د دنیا د یو لوی مادی طاقت په خلاف جهاد پیل کړ، هغه وخت ستاسو د داړ او تسلا یوازینی او د الله تعالی ددی فرمودی په اساس چه فرمائی: «ان الدین عندالله الاسلام» په خپلو منځو

په افغانستان کښی وسیع البنیاد حکومت جوړول او غربی دوله جمهوریت راوستل د استعمار بریالیتوب او د جهاد د ناکامی په معنی دی، ظاهر شاه او ظاهر شاه پرستو مجرمانو او نورو لادینو عناصرو ته د مجاهدو افغانانو د سرنوشت سپارل، د افغانستان د مسلمان امة په تعقل او جهاد پوری توقی او مسخری دی.

د قرآن او سنت په حاکمیت کښی ده که د غربی دوله جمهوریت په اصولو جوړ حکومت کښی؟

٧ ـ آیا تاسو له موجودو قیادتونو څخه مطمئن یاست چه هغوی څه کوی هغه ښه کوی یعنی دا چه د موجوده قیادتونو له خوا نقطه، په فی سبیل الله جهاد باندی ستاسو نه ماتیدونکی ایمان ؤ، خو نن چه د دنیا راز راز وسلی او مهمات ستاسو پلاس دی، ولی نامطمئن او پریشان ښکاریږئ؟

د افغانستان مسلمان ملته! کښی «کانهم بنیان مرصوص» او د «اشدآء علی الکفار ورحمائبینهم» مصداق شئ.

دا چه د کونړونو د اسلامی امارت په اساس، کونړ د اسلامی افغانستان جزء لاینفک برخه ده، پدی اساس لازم دی چه تاسو

دا چه د کونړونو د اسلامی امارت په اساس، کونړ د اسلامی افغانستان جزء لاینفک برخه ده، پدی اساس لازم دی چه تاسو مجاهدین، په آزادو سیمو کښی د شهیدانو د آرمان په خاطر متحدی اسلامی اداری جوړی کړی او د کونړونو د اسلامی امارت د تأسیس په څیر د خپلو مسلمانو خلکو د ژوند، آبرو، عزت او مال د خوندی ساتلو او د اسلامی امنیت د تأمین په غرض منتخبی اسلامی اداری تأسیس او د هغه الهی نعمت خوند د شهیدانو په وارثانو باندی وڅکی

د یو او بل تخریبول به د جهاد د ثمری لپاره ګټه ورسوی که تاوان؟

دا هغه پوښتنی دی چه تاسو د اسلام او توحید پتنګان یی باید په هر وخت کښی له ځان څخه وکړئ. تاسو چه په خالی لاسونو ننګیالیو او جنګیالیو مجاهدینو!

په دین مینو مهاجرو ورونو!

د الله تعالی له غیبی امداد او مرستی څخه مه نا امیده کیږئ، ځکه الهی ارشاد دی چه فرمائی: «لاتقنطوا من الرحمت الله»، له ګوندی او تنظیمی هالونه راووزی مجاهدین، په آزادو سیمو کښی د شهیدانو د آرمان په خاطر متحدی اسلامی اداری جوړی کړی او د کونړونو د اسلامی امارت د تأسیس په څیر د خپلو مسلمانو خلکو د ژوند، آبرو، عزت او مال د خوندی ساتلو او د اسلامی

امنیت د تأمین په غرض منتخبې اسلامی اداری تأسیس او د هغه الهی نعمت خوند د شهیدانو په وارثانو باندی وڅکی د کوم نعمت لپاره چه شهیدانو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ.

نن د افغانستان د کونړونو اسلامی امارت د سپیڅلی شرعی قانون په نفاذ سره په منطقه

لار هواره کړی او پدی مکلف دی د کونړونو له اسلامی امارت سره رابطه ونیسی، د کونړونو اسلامی امارت بیله هر ډول تبعیض څخه د قرآن او سنت د هدایت په

څو مجاهده وروره! ښه فکر وکړه. آیا د قیامت په ورځ به همدا قوماندان تا د الله جل جلاله له مؤخذی

ته کوم شرعی دلیل لری چه د اسلامی امارت مخالفت کوی؟

رڼاکښی د ټولو مجاهدینو ورونو په خدمت کښی دی چه خپلی تجربی ورسره شریکی کړی.

مجاهدینو ورونو!

د ټولو مسلمانانو دا شرعی وظیفه او فریضه ده چه د

د استعمار اجنټانو ته دا پلمه پلاس ورغله چه ستاسو جهاد ته د روس او امریکی پالیسی ووائی او حال دا دی چه دواړه استعماری طاقتونه نن ستاسو د اسلامی حکومت د جوړیدلو په خلاف یوه خو له او په یوه لار روان دی، د کشمیری مسلمانو مجاهدینو قاتل (هندوستان) نن له دغو ناوړو حالاتونه په استفادی سره د افغانستان د جهاد د ثمرو د تس نس کولو لپاره لګیادی له نجیب او ظاهر شاه سره سازشونه کوی.

کښی امن قائم کړی، ټول معاملات او تعلقات د اسلامی شریعت په بنیاد سرته رسیږی.

د افغانستان د کونړونو اسلامی امارت غواړی چه د افغانستان په ټولو آزادو سیمو کښی د ټولو مجاهدینو د اتحاد په اساس دغه ډول اسلامی اداری جوړی کړی شی او د اسلام تر واحد بیرغ لاندی دی بیله تنظیمی، قومی، لسانی، سمتی او نورو تبعیضونو او توپیرونو څخه یوځای د شریعت د قیام لپاره

پوښتنه: قوماندانانو ورونو! تاسو چه ددغی اسلامی اداری په ضد هڅول شوی یاست، ایا دالله جل جلاله په وړاندی دخپلو کړو دتوجیه لپاره کوم شرعی دلیل لری اوکه نه؟

څخه خلاص کړای شی؟ آیا

افغانستان د کونړونو له اسلامی امارت سره د الله تعالی د قانون د تنفیذ په لار کښی هر ډول مادی او معنوی مرستی وکړی، ځکه چه: د افغانستان د کونړونو اسلامی امارت د شهیدانو د آرمان ثمره او د یو اسلامی افغانستان د

مجاهده وروره! ستا دا دومره قربانی او جهاد د ګناهونو او منکراتو د ترویج لپاره دی او که د خپل عمل لپاره کوم شرعی دلیل لری؟ لږ سوچ او غور

وکړه، خپل وجدان قاضي کړه او په خپل ګریوان کښې محکمه او فیصله وکړه، که کوم شرعي دلیل درسره وي، نو ماهم قانع کړه،

امارت په پالیسی سالم او رغونکی انتقاد وکړی، تعمیری تجاویز وړاندې کړی او یا له دغه امارت څخه د الهی قانون په تنفیذ کښې ملاتړ او تعاون وغواړی ځکه چه «تعاونوا علی البر والتقوی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان» په هر میدان کښې زمونږ د امارت، لارښوونکی اصول دی.

مجاهدینو ورونو!

د ټولو مسلمانانو دا شرعی وظیفه او فریضه ده چه د افغانستان د کونړونو له اسلامی امارت سره د الله تعالی د قانون د تنفیذ په لار کښې هر ډول مادیّ او معنوی مرستې وکړی، ځکه چه: د افغانستان د کونړونو اسلامی امارت د شهیدانو د آرمان ثمره او د یو اسلامی افغانستان د جوړښت سمبول دی.

د افغانستان د کونړونو جوړښت سمبول دی.

پدی اساس هر مجاهد، مهاجر او مسلمان افغان ته دا حق حاصل دی چه د دغه اسلامی امارت د ټینګښت او بریالیتوب لپاره له هر

پوښتنه: دا کار چه ته د هغه مرتکب شوی، آیا دا په کوم دین او د کوم قوم په دستوراتو کښې شته؟

ډول مرستې څخه ډډه ونکړی، د

دافغانستان د کونړونو اسلامي امارت هیله لري چه داسلامی عظمت تاریخ او دټول بشریت دنیکمرغی تاریخ دافغانستان د مجاهدینو له سنګرونو څخه ولیکلی شی.

اسلامی امارت هیله لری چه د اسلامی عظمت تاریخ او د ټول بشریت د نیکمرغی تاریخ د افغانستان د مجاهدینو له سنګرونو څخه ولیکلی شی. (وما علینا الا البلاغ)

بقیه صفحه (۳۳)

تشکیلات اداری در مناطق آزاد یک ضرورت مبرم است

استقرار احکام شریعت است استوار گردد، و از جانب دیگر امنیت و آرامش مناطق آزاد تأمین گردیده، عزت، آبرو و مال مردم مسلمان از شرر دزدان و جنایت پیشگان در امان گردد. و هم چنان سازش و توطیهٔ دشمنان اسلام نیز خنثی شود (ادامه دارد)

دافغانستان مسلمان ملت ته!

بسم الله الرحمن الرحيم

دا په کوم جرم؟ دکونړونو په آزاده خاوره بې رحمه تاړاکونه

محترمو مسلمانانو ورونو !هغه څه چه دافغانستان په آزاد او اسلامي ولایت کنړ کی تیر شول او تیریږی، ټول پری خبر یاست، هلته دټولو جهادی ځواکونو په ګډو هلو ځلو په ۱۵/۱۰/۱٤۱۰هـ ق نیټه دجمعي په ورځ یوه واحده اسلامي اداره دانتخاباتو دنتیجی په اساس تأسیس او شهید شیخ جمیل الرحمن ئی چه په افغانستان کی داسلامي جهاد باني ؤ، ددغه امارت دامیر په توګه وټاکه او ټولو علماؤ، سپین ږیرو، قومندانانو او مجاهدینو ورسره بیعت وکړ، مګر یوی محدودی ډلی افرادو دخپلو شخصی ګټو په بناء له دغه امارت څخه دبغاوت لار غوره کړه او د اسلامي امارت دري تنه ساتندویان ئی شهیدان کړل او دري ورځې پرلپسې ئې په اسلامي امارت حملې وکړې، چې پدې لار موفق نه شول، نو په تخریبکارۍ او دعامه امن په خرابولو ئی لاس پوری کړ، لاری او کوڅی، حتی دچینو غاړی ئی له ماینو څخه ډکی کړی، په کلیو اوبانډو ئی میزائیل ؤورول، دروان هـ ش کال دزمری دمیاشتی په ۱٦او ۱۷ نیټو ئی داسلامي امارت دلومړی لیکی په مجاهدینو باندی پداسی حال کی حمله وکړه چه هغوئ له ملحد دښمن سره په جهاد مصروف وو. ددې یرغلونو تر څنګ ئی په خپلو نشراتو کی د«اهل حدیث» مسلك په مقابل کی زهرجن تبلیغات پیل کړل، داهلحدیث دمسلك پیروان ئی (دوهابیانو په نوم) وټکول او دهغوئ دځان، مال او ناموس دلوټولو د اباحت اعلان ئی وکړ، دډیرو ولایاتو خلك ئی دکونړونو دمسلمانو خلکو په مقابل کی راوپارول، قبائیل او نور ئی

د « گلم جم » مليشى په شكل د اجورى په مقابل كى منظم كړل او دروان هجرى شمسى كال دزمرى دمياشتى په (۳۱) نيټه ئى دكنړ په آزاده اسلامي خاوره باندى عمومي عمليات پيل كړل، په زرگونو خلك ئى له درندو وسلو او وسايلو سره دكنړونو حدودوته را داخل كړل، لوټمار شروع شو او په ډيرى بى دردۍ سره ئى په عامه وژنه پيل وكړ، شهيدان ئى مثله كړل، زخميان ئى په سيند لاهو كړل، دكنړونو دمسلمانانو په عزت او ناموس ئى داسى لوبى شروع كړى چى دافغانستان په تاريخ كى سارى نه لرى، دابه كله چانه وى اوريدلى چه ديوه ولايت دكورونو دروازې دې دبل ولايت خلكو وړې وې! دغو نقابى مسلمانانو داسى جنايات وكړل چه د چنگيز او هلاكو ريكارډ ئى مات كړ؛ اوس پوښتنه داده چه دا په كوم جرم؟

۱- آيادا پدى جرم چه په دغه خاوره كى دلومړى ځل لپاره دتوحيد آواز پورته شوى دى؟

۲- آيادا پدى جرم چه له دغى خاورى څخه دلومړى ځل لپاره وسله وال جهاد پيل شوى دى؟

۳- آيادا پدى جرم چه دغه خاوره په لومړى ځل دملحدينو له پنجو څخه آزاده شوى ده؟

٤- آيادا پدى جرم چه پدى خاوره كى دلومړى ځل لپاره دافغانستان دآينده اسلامي حكومت تيگه ايښوده شوى؟

٥- آيادا پدى جرم چه پدى خاوره عملاً شرع الله نافذ شوى دى؟

٦- آيادا پدى جرم چه په دى خاوره كى دهر چا دمال، ځان او آبرو د حفاظت تأمين شوى؟

۷- آيادا پدى جرم چه پدى خاوره كى منكرات او مخدرات منع كړاى شويدى؟

دپورتنيوپوښتنو ځوابونه ديرغلكرو له سپه سالار او نورو مجرمانو څخه مطلوب دى.

محترمو مسلمانانو وروڼو! تاسو په خپله قضاوت وكړئ چه كه چيرى ددغو قوتونو نيمائى برخه دكابل دنيم ژواندى رژيم په لور سوق شوى واى، آيا د كابل رژيم به له كامل سقوط سره نه ؤ مخامخ شوى؟ آيا دمختلفو تنظيمونو قومندانانو دغه پول يووالى او پخه اراده كله هم دكمونيستانو يا روسانو په مقابل كى ښكاره كړى ده؟ نه پوهيږو ددغو اعمالو اصلى مرتكبين به دالله تعالى او مسلمان ملت په وړاندى څه ځواب ولرى؟

ددغو شهيدانو دوينو او دهغوئ دلوټ شويو مالونو، ځانونو او عزتونو ځواب به څنگه وركړى؟ پداسى حال كى چه لوټمار لا هم جارى دى. بالآخره نيتجه څه شوه؟

په تالا شويو سيمو كسى ديوى منظمى اسلامي ادارى پر ځاى انارشى او گډوډۍ حكومت كوى. دهجرت سلسله دوباره شروع شوه- دهيچا ځان، مال او عزت په امن كى ندى، ددى تاړاكونو همدا هدف وه؟

(فاعتبروا يا اولى الأبصار)

په کنړونوکی داسلامی امارت د

«احتساب» دڅانګی له مسئول ښاغلی مولوی فضل جلال ابو شعیب سره مرکه

«احتساب» له «الحسبه» څخه مأخوذ او امر بالمعروف او نهی عن المنکر ته وائی، هیڅ اسلامی اداره دمسلمانانو د ورځنی ژوندانه او عبادی امورو په سمبالولو کی بریالیتوب نه شی تر لاسه کولای تر څو چی «داحتساب» او «الحسبه» فعاله څانګه په خپل څنګ کی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر لپاره په کار وانه چوی، پدی اساس دکنړونو اسلامی امارت له خپل قیام نه وروسته د نورو دینی او دنیوی چارو دسمبالولو تر څنګ د «الحسبه» دڅانګی دفعالیدو لپاره یوتن تکړه او په دین پوه عالم چی مولوی فضل جلال «ابوشعیب» نومیږی، وټاکه.

مولوی فضل جلال په حق ولاړ، متدین او مضبوط عالم دی چی د«الحسبه» ددندي تر څنګ د اسلامی امارت دشوریٰ غړیتوب هم په غاړه لری، په افغانستان او پاکستان کی ئی له دینی مدر سو څخه فراغت حاصل کړی او مولوی جمیل الرحمن ئی داستادانولجملی څخه دی.

د«دعوت» دمجلی خبریال له ښاغلی مولوی فضل جلال سره مرکه کړی چه متن ئی په لاندی ډول دی:

بسم الله الرحمن الرحیم

س: جناب مولوی صاحب ! لطفاً دخپلی څانګی دفعالیتونو په هکله څه ووائی ؟

ج: بسم الله الرحمن الرحیم ، الله تعالی فرمائی : « الذین ان مکنهم في الأرض اقاموا الصلواة وأتوا الزکوة وامروا بالمعروف ونهوا عن المنکر ولله عاقبة الأمور » (حج -٤١).

ځرنګه چی «حسبه» داسلامي حکومت اساسی جز او یو شرعی امر دی، نو که اسلامی حکومتونه په نیکیو امر ونکړی او د بدیو ممانعت ونکړی او خلك دتوحید عقیدی ته راونه بولی، هغوئ ته اسلامی حکومتونه نه شی ویل کیدای.

په کونړ کی داسلامی امارت له قیام نه وروسته، داسلامی امارت په چوکاټ کی د «الحسبه» د څانګی په پرانستو سره، دلومړی ځل لپاره دصحابهٔ کرامو او نیکو اسلافو تاریخ ژوندی شو او پکار ئی پیل وکړ.

س: که ستاسو د کارونو یو څو مثالونه د«دعوت» دمجلی محترمو لوستونکو ته بیان کړئ ، ډیره مهربانی به مووی؟

ج: تاسو ته به معلومه وی چی د «احتساب» څانګی داسلامی امارت له قیام سره سم په کار پیل کړی او د خپل توان په چوکاټ کی ئی ډیر شمیر کارونه سرته رسولی دی چی اهم ئی، قصاص تطبیق شوی، دمنکراتو په ارتکاب کی د بندی کیدلو او وهلو تعزیزات نافذ شوی، مخدرات له منځه وړل شوی، خلکو ته امر شوی چی دلمانځه په وخت کی خپل تجارتی مرکزونه او دوکانونه بند کړی او مسجد ته راشي، پدی وروستیو ورځو کی مو ډیر نشه او رشیان له منځه یووړل، د منطقی خلکو هر ډول شرعی امر ته لبیك ویلی او پوره اطاعت ئی کړیدی، ځکه هغوی پدی پوه شوی دی چی دشرعی احکامو په عملی کولو کی مو ددنیا او آخرت نیکمرغی نغښتی ده، کومو خلکو چی د بنګو او کوکنارو فصلونه کرل، هغوئ خپل فصلونه په خپلو لاسو خراب کړی او امارت ئی اجوره او بدله ورکړی ده.

س: محترم مولوی صاحب ! په کونړ کی داسلامی امارت له قیام نه مخکی او وروسته حالات څرنګه ارزیابی کوی ؟

ج: داسلامی امارت له قیام نه وروسته په حالاتو کی ډیر بدلون راغلی او مخ په ښه کیدو روان دی. پخوا مونږ یوازی نصیحت کولای شو چه دیو شرعی امر د تطبیق وشي، او د یو بدکار دمخنیوی توان مو نه درلود، خو اوس لله الحمد وضع ډیره ښه شوی او خلك پدی پوهیږی چی که مونږ خلاف ورزی وکړو، دقوی په زور راباندې دا شرعی حکم تطبیقږی، پدی اساس څوك منکراتو ته زړه نه ښه کوی.

«إن الله یزع بالسلطان مالا یزع بالقرآن»

س: په امارت کی دامنیت او ستاسو او دامارت دمؤظفینو تر منځ رابطه څرنګه دی؟

ج: مونږ چی کله کومی منطقی ته د عمل لپاره ځو، نو لومړی دهغې منطقې پولیس ته اطلاع ورکوو، هغوئ زمونږ دحمایت لپاره زمونږ ملګرتیا کوی او دامر بالمعروف او نهی عن المنکر په برخه کی دوئ هم را سره پوره برخه اخلی.

س: له قضائی هیئت سره ستاسو رابطه څنګه ده ؟

ج: کله چی مونږ د پولیس پذریعه مجرمان ونیسو، نو قضائی محکمی ته ئی وړاندی کوو، لومړی مونږ خپله رأیه او نظر لیکو، وروسته محکمه پکښی خپل اقدام کوي.

س: آیا په کونړ کی بدعی قبرونه او زیارتو وجود لری؟

ح: هوکی، په کونړ کی دسنت خلاف بدعی قبرونه او زیارتونه شته.

س: آیا تاسی دا قبرونه او زیارتونه وران کړی دی ؟

ج: نه، تر اوسه پوری مونږ کوم قبر یا زیارت ندی وران کړی او دا کار راته ګټور نه بریښی، خو کوشش کوو چی خلك د وعظ او نصیحت له لیاری اصلاح کړو، مونږ خلك پدې پوه کوو او ورته وایو چی اسلام له سنت نه دخلافو قبرونو او زیارتونو د ورانیدو حکم کړی دی، مونږ ورسره غرض نلرو، علی کرم الله وجهه فرمائی :« امرنی خلیلی الا ادع قبراً مشرفاً الا سو یته ....»

س: تاسی ددی بدعی قبرونو او زیارتونو دورانیدو کله اقدام کوی ؟

ج: مونږ دقبرونو او زیارتونو دورانیدو اقدام نه کوو، بلکه کوشش کوو چی خلك په شرعی آوامرو پوه کړو، څو دوئ پخپله دخلاف سنت قبرونو د ورانیدو اقدام وکړی، کله چی له انسان سره دنیکی او خیر نیت ملګری وی، نو الله تعالی ورته مشکلات آسانوی، الله تعالی فرمائی:«والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا ان الله لمع المحسنین» (العنکبوت/۶۹).

س: کونړ دموحدو علماؤ مرکز دی، څنګه کیدای شی چه هلته بدعی قبرونه موجود وی؟

ج: داقبرونه له پخوا نه موجود دی او موحدینو دهغوئ دورانیدو لپاره کوم اقدام ندی کړی، لیکن په قبرونو باندی دشرکی اعمالو دسرته رسولو دمخنیوی اقدام ئی کړی دی.

په پای کی مونږ غواړو چی دغه دامر بالمعروف اونهی عن المنکر څانګه یوازی په کونړ کی نه، بلکی په ټوله نړۍ کی نافذ شی، څو دالله تعالی دین په صحیح توګه نافذ او خالص شی.

(والسلام علی من اتبع الهدی).

«دکنړ داسلامی امارت په مراکزو باندي ددرندو جنګی وسایلو حملی او د نورو ولایاتو د اجرتی قاتلانو پلاس داسلامی امارت دبی ګناه مجاهدینو وژل دحزب حکمتیار دهغی عمومی تصفیی دسلسلی یوه کړی ده چی په ټول افغانستان کښی ئی پیل کړی ده»

بسم الله الرحمن الرحیم

په کنړکی داسلامي امارت دتأسیس په مناسبت په اروپا کی دافغانانو داسلامي ټولني لخوا دتبریکی پیغام:

(ونرید أن نمن علی الذین استضعفوا في الأرض ونجعلهم أئمة ونجعلهم الوارثین)
(القصص/ ٥)

په نړۍ کي، دکفری قانون، ظلم او ستم، بربریت او جهل، فساد او شرك دتورتمیو د هلاکوونکو طوفانونو د محوه کیدو او ددي په ځای د خدای جل جلاله په ځمکه دالهی قانون، لا مثاله عدالت، قرآني تمدن، اسلامي پوهي، نبوی اصلاح او توحیدی پاکو ولولو د قیام او ټینګار په امید خیل نیك سلامونه، درندی هیلی او د لا بریالیتوب آرزوګانی او دزړه له کومی تبریکی دکنړ په ولایت کی داسلامي امارت دتأسیس په مناسبت د کمونیزم د امیراطوری نړی وړی کوونکو اتلو افغاني غازیانو، ژړا او فریاد کوونکو یتیمانو، بی وزله او محتاجه کونډو رنډو، ربړیدلو مهاجرینو او دنړی دمستضعفو مسلمانانو او په خاص ډول دکنړ داسلامي امارت امیر او په افغانستان کی دمسلح مداوم جهاد مؤسس محترم مولوی صاحب جمیل الرحمن، د اسلامي امارت دعالی شوری غړو او دکنړ اتل او بت شکن مجاهد ولس ته وړاندی کوو- هیله ده چی قبول ئی کړی.

ای مجاهد ولسه!

دا چی دخدای جل جلاله دصفت په واقع شوی یاست، دمجاهد لقب مو ګټلی او ددی قرن د ګرم جهاد، زړه ور توب او اتلوالي د مهال قابلیت مو تر لاسه کړی، شهادت او قربانیو ته مو لبیك ویلی، او په نتیجه کی مو دکمونیزم باداران او دهغه تور مخی نوکران د څو کلو راهیسی ددغی مجاهدی او مظلومی خاوری څخه ویستلی او منطقه مو د کمونیزم او الحاد دجراثیمو څخه پاکه کړی ده، نو دا هم د قادر او توانا ذات لوی احسان دی چی په تدریج سره د شهیدانو په وینو خړوب شوی نیالګی ثمر ته رسیږی او د لومړی ځل لپاره ستاسو په لاسونو په یوه آزاده منطقه کی د موحدو علماؤ په رهبریت داسلامي حکومت د

قیام انگازی او زیری خیریزی. نو ربنتیا ده چې د دردیدلو او ربړیدلو مسلمانانو د امیدونو غوټې په غوړیدو راځي او جهادي بېړاو یوې بلې مرحلې ته داخلیږي.

دناصر المؤمنین ذات په دربار کې د تواضع ږغ پورته کوو او وایو چه ای خدایه! په خپله عظیم الشانه مهرباني د افغانستان دمظلوم او مجاهد ولس قرباني او فریادونه قبول کړې او ددغه اسلامي امارت بنسټ دکلمې طیبې په شکل مضبوط او قوي وګرځوې چه د ډیرو مسلمانانو د امیدونو مطابق د ټولې نړۍ او بالخصوص د افغانستان دآزادو منطقو او آینده لپاره ژوندی مثال وګرځي.

دلوی خدای جل جلاله څخه غواړو کوو چه دغه اسلامي امارت داسلامي ایډیالوژۍ، نظم دیسپلین، سیاست، عدالت، تعلیم او تربیې دریښتیني بڼې څرګندونکې، د مظلومینو د حقوقو مدافع او دجهاد او قربانیو دثمرې حقیقي پیغام رسوونکې وي.

مونږ په اروپا کې دافغاني اسلامي ټولنې غړي او نور متعهد مسلمانان ددغه نیکمرغه عمل ملاتړ کوو او همدارنګه دافغانستان په نورو آزادو منطقو کې د اسلامي حکومت دقیام غوښتونکي او ملاتړ کوونکي یو.

په پای کې ستاسو ټولو مجاهدو قوتونو لپاره د وحدت او یووالي په سیوري کې د رب العالمین ذات څخه د زیاتې مرستې او نصرت غوښتونکي یو.

د کمونیزم او نورو کفري او الحادي فکرونو او کړنلارو دنابودۍ او دالهي قانون دنفاذ په لور ګامزن او تل تر تله بریالي اوسئ!

شهادتونه مو قبول او بریالیتوبونه مو مبارک شه!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

په اروپا کې دافغانانو داسلامي ټولنې غړي او نور متعهد مسلمانان

راځئ خپل شرعي مسئوليتونه او تعهدات پوره کړئ.

قال الله تعالی: «يريدون ليطفئوا نورالله بأفواههم والله متم نوره ولو کره الکافرون» الآيه (الصف/٨).

دايو څرګند حقيقت دی چې دکونږونو په ولايت کی دالله تعالی په نصرت او دټولو جهادی ځواکونو دکوششونو په نتيجه کی اسلامي امارت تأسيس کړی شو، زمونږ او دنړی دمسلمانانو له آرزوګانو سره سم په کی امنيت تأمين، الهی نظام حاکم او شرعي حدود عملاً نافذ شول.

خو په تأسف سره بايد ووايو چې يو شمير افرادو، نه يوازی دا چې خپل تعهدات تر پښو لاندی کړل، بلکی ددی نوی را ټوکيدلی اسلامي امارت په مقابل کی يی دختڼونو دراپيداکولو هلی ځلي پيل کړی، قومی، قبيلوی او کورنی هيری جګړی يی بيا را ژوندی کړی او لګياوو له اسلامي امارت سره ئي د وسله والی جګړی لپاره هره ورځ نوي نوي پلمی جوړولی، ان تردی چې کله به اسلامي امارت د مخدره موادو او منکراتو مخنيوی کاوه، دوئ به يی ترويج کاوه. لنډه داچې په منظمه توګه يی داسلامي امارت په مؤمنو پاسدارانو بی رحمانه بريدونه پيل کړل. دری ورځی مسلسل ئي داسلامي امارت مراکز ترخپلو حملو لاندی ونيول، خو ډير زر دالله تعالی په نصرت دکونړ خاوره دهغوئ له شر څخه پاکه شوه. داسلامي امارت مسئولينو څو ځلی دوئ دخير او صلاح لوري ته را وبلل، خو افسوس چې دوئ ددلسی نيك دعوت ځواب له مسلمان وژنی پرته په بل څه ورنکړ.

له څه مودي راهيسی يی دکونړ په سرحدونو کی دتجاوز او يرغل په نيت له مختلفو ځايو څخه اجرتی قاتلان، ډاکوان او لار وهونکی را بللی دي او غواړی چې دخپلو شخصی ګټو دتحفظ او تداوم په غرض دمنطقی عزت او عفت تر پښو لاندی کړی، په همدی اساس يی دقبائلو له سيمو څخه دکونړونو په کليو او بانډو باندی دميزائلو په ورولو شروع وکړه او يو شمير جنايت پيشه قاتلان يی مؤظف کړل چې دسيمي دمسلمانو او متدينو خلکو ژوند نارام ، او داسلامی حکومت له خوږو يی محروم کړی.

داقتدار او هوس بندګانو له يوی خوا په خپلو ورځپانو او نشراتی ارګانونو کی په بي شرمانه دروا‌غو افترأتو او بدو ردو شروع وکړه او له بلی خوا يی دکونړ په کليو، بانډو، کوڅو او سرکونو کی دماينونو په ښخولو او نورو ورانکاريو لاس پوری کړ. او په ډير تأسف

سره باید ووایو چې ددغو ورانکاریو پواسطه یې یو شمیر مسلمانان شهیدان او ځینې یې ټپیان کړل. دغه ورانکارې دمنګوال، خاص کونړ، ګوریك او سرکانو په سیمو کې سرته ورسیدلې او همدارنګه هڅه کوي چې پخپلو دغو قبیحو اعمالو سره دنجیب په قواؤ باندې داسلامي امارت له خوا داوسنیو کیدونکو عملیاتو تدابیر شنډ او خنثی کړي.

اسلامي امارت په داسې حال کې چې دشهیدانو له وارثانو او کورنیو سره په غم او درد کې خپل ځان شریك او سهیم ګڼي، دالله تعالی له دربارڅخه دشهداؤ دمغفرت اود هغو کورنیو ته دجمیل صبر او مجروحینو ته دعاجلې شفا غوښتنه کوي.او هغو کسانو ته چې دخپلو شخصي ګټو په خاطر دشیطان. په نغوته شپه او ورځ دمسلمان وژنې پلانونه او منصوبې جوړوي، دا په ډاګه یو ځل بیا تکراروي : راځئ خپل شرعي مسؤلیتونه او خپل تعهدات پوره کړئ، خپل امکانات او صلاحیتونه دمسلمانانو دتباه کولو پرځای دهغوئ دبهبود په لارکې په کار واچوئ؛ دفساد، ورانکارۍ، اختلافاتو او دمسلمانانو له وژلو څخه لاس واخلئ او دالله تعالی له عذا ب نه وویریږئ او هغه ورځ در په یاد کړئ چې ستاسو مشران به هم ستاسو له دې ناوړو کړو وړو څخه بیزاري اعلانوي او دالله تعالی په وړاندې به یواځې دخپل عمل ذمه وار او ځواب ورکونکی یې، او د الله تعالی دا قول در په یادکړئ چې فرمائي : «ومن یقتل مؤمناً متعمداً فجزاءه جهنم خالداً فیها وغضب الله علیه ولعنه وأعد له عذاباً عظیماً».

(سورة النساء /٩٣).

داسلامي امارت مسؤلین دحجت داتمام په خاطر بیا دا یادونه ضروري ګڼي چې باید هغه فتنه اچوونکي او فساد پیشه عناصر چې دبې ګناه مسلمانانو په وینو یې لاسونه سره دي له خپلو دغو شیطاني او غیر اسلامي اعمالو څخه لاس واخلي که نه نو د آینده وخیمو عواقبو مسئولیتونه به ددوئ په غاړه وي.

داسلامي امارت متعهدین او دکونړ ټول مسلمانان دخپلې اسلامي فریضې د اداء کولو او په سیمه کې دامنیت دتأمین او د منطقې د مسلمانانو دسر او مال او عزت دساتنې په خاطر هر ډول سرښندنې او قربانۍ ته چمتو دي او دفساد دله منګه وړ لو او دمجرمینو دټکولو لپاره خپل ټول صلاحیتونه او امکانات پکار اچوي تر څو فتنې ختمې او پر ځمکه باندې خاص د الله «جل جلاله» دین حاکم شي.

(وما علینا إلا البلاغ)

دکونړ اسلامی امارت دپاکستانیو مطبوعاتو په هنداره کی

دمطبوعاتو په هنداره کی

جدت – دجون (۲۷)نیټه

«دروان عیسوی کال دجون دمیاشتی په (۲) نیټه دافغانستان دکنړونو داسلامی امارت دخارجه چارو مسئول ښاغلی نور محمد «مجیدی»، داسلامی امارت ددعوت او ارشاد رئیس ښاغلی عبدالحمید «شورش» او د «جماعة الدعوة الی القرآن والسنة» ددارالانشاء رئیس«ښاغلی مولوی عبدالبصیر دکنړونو دوروستیو پیښو په هکله د پیښور په «دینز» هوټل کی یو اخباری کنفرانس دایر کړی ؤ او ګڼ شمیر کورنیو او بهرنیو ژورنالیستانو او لیکوالانو پکښی برخه اخیستی وه چی متن ئی په همدی مجله کی د لوستونکو دلوستلو لپاره نشر شوی، هیله ده چی مراجعه ورته وکړی.

****

داسلامی امارت په هکله د پاکستانیو ژورنالستانو تاثرات:

دروان کال دجولائی دمیاشتی په (۵) نیټه داسلام آباد دژورنالستانو یوی دری کسیزی ډلی د «حریت» د اونیزی مجلی نماینده ګانو خالد سیال ، عبدالرحمن او داسلام آباد دانګریزی ژبی ورځپانی «آبزرور» نماینده محمد امجد دافغانستان دکنړ داسلامی امارت مفصله دوره وکړه، دکنړ په ولایت کی دغی دری کسیزی ډلی د اسلامي امارت دامیر له قایمقام ښاغلی مولوی عبدالرحمن او د داخله چارو له رئیس ښاغلی روزی خان سره هم لیدنه کتنه وکړه. دخپلی دوری په پای کی دغو ژورنالستانو دکنړ داسلامی امارت په هکله خپل تأثرات داسی بیان کړی!

مونږ دافغانستان د«جماعة الدعوة الی القرآن والسنة» په دعوت دکنړ داسلامی امارت لیدنه کتنه وکړه او دیو واقعی اسلامی نظام دلیدو موقع راته میسره شوه.

په صراحت سره باید ووایو : ددغه اسلامی مقتدر حکومت په لیدو سره هر هغه مسلمان چی داسلامی تاریخ سره آشنا وی او اسلامي تاریخ ئی مطالعه کړی وی، دخلفاء راشدینو یاد ئی په زړه کی را تازه کیږی.

زمونږ امید دی چی دکنړ اسلامی امارت به دټول افغانستان لپاره دنیك مرغی زیری وګرځی.

په پیښور کی دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة دارتباط مسئول ویلی چی دکونړ دولایت لاره دعام ترافیك پر مخ خلاصه ده.

دمشرق ورځپانه دجولائی (۱۵) نیټه

دجماعةالدعوة الی القرآن والسنة دخارجه ارتباط مسئول محترم حیات الله پخپل یو بیان کی دا خبره واضح کړی چی دکنړ عمومی لیاره دافغانستان د ټولو مجاهدینو او عامو خلکو لپاره بلا امتیازه خلاصه ده او هر مجاهد او مهاجر چی په هر تنظیم او ولایت پوری مربوط وی داسلامی امارت په قلمرو کی به دهغوئ دمالی او ځانی تحفظ دساتنی کوشش کیږی.

دیو سوال په ځواب کی ښاغلی حیات الله خان وویل چی دځینو تخریب کارانو له خوا دګنجګل په علاقه داری کی مینونه ایښودل شوی وو، چی دیو تن مجاهد دشهید کیدو او ددریو تنو نورو دټپی کیدو سبب وګرځیدل.

نوموړی زیاته کړه چی د مخالفو طاغوتی قوتونو دا پروپاګنډه چی امارت اسلامی دافغانستان دتجزئی لپاره کوشش کوی، بی اساسه ده.

ده وویل: دامارت اسلامی سیاست یو سپیځلی سیاست دی او دا ئی شعار دی چی افغانستان نه تجزیه کیدونکی ټوټه ده. هر کله چی په افغانستان کی یو واقعی اسلامی حکومت منځته راشی، دکنړ ولایت به دهغه جز وی.

****

ظاهر شاه ته داقتدار سپارلو مخالف یم. «الشیخ جمیل الرحمن»

دافغانستان په جهاد کی هیڅ برخه نده اخیستی، ما په خپله مرکه کښی د ظاهرشاه هیڅکله هم حمایت ندی کړی.

باجوړښار «وحدت خبریال» دافغانستان دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة او دافغانستان دکونړونو داسلامی امارت امیر الشیخ جمیل الرحمن په خپل یو اخباری بیان کی ددی خبری وضاحت کړی دی، چی زما دیوی وروستۍ اخباری مرکی نه څرګندیږی چی ګوندی ما، افغانستان ته د «ظاهرشاه» دبیا راتللو هر کلی کړیدی.

په حقیقت کی ما همیشه دظاهرشاه د راتګ مخالفت کړی او کوم به ئی، ځکه چی ظاهر شاه د افغانستان په جهاد کی هیڅ قسمه مالی یا ځانی قربانی نده ورکړی، او دافغانستان مجاهد ؤلس به ظاهرشاه هیڅکله ونه منی. زه یو ځل بیا دا خبره تکراروم چی زه به هیڅکله دظاهر شاه په شان کسانو حمایت او مرسته ونکړم.

****

په ۱۸ /۵ /۱۳۷۰ هـ ش نیټه دننګرهار دشمال ختیځی حوزی دلمړی لیکی

دقوماندانانو دشورئ له خوا یوه اعلامیه نشر شوی چی دادی درنو لوستونکو ته کټ مټ وړاندی کیږی.

درنو مسلمانانو ورونو ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

دروان هجری شمسی کال د زمری دمیاشتی په ۱۵ نیټه کله چه دکابل جلال آباد دعمومی سرك دقطع کولو لپاره دمجاهدینو عمومی عملیات پیل شول، نو دننګرهار دشمال ختیځی حوزی دلمړی‌لیکی (خط اول) د قوماندانانو شورئ هم دکونړونو داسلامی امارت تر قیادت لاندې په ګډه د عبدالخیلو، ګوریك او ګمبیری دسیمو په الحادی پوستو باندی خپلی دښمن ځپونکی حملی شروع کړی او تر ماښامه پوری ئی دوام وموند، مګر متأسفانه په (۱۳۷۰/۵/۱۶هـ ش) نیټه د حکمتیار ګوند دملحد رژیم دقواوو په ملاتړ چه د جنګی الوتکو او میزائلو په وسیله ئی بدرګه کیده لمړی‌لیکه تر اور لاندی ونیوله چه تر څو ساعتو وروسته ډزی بندی شوی، وروسته په (۱۳۷۰/۵/۱۷هـ ش) نیټه د سهار په دوو بجو بیا د حکمتیار افرادو د کامی له لوری په مجاهدینو باندی د شا له خوا حمله وکړه چه بیا هم د نجیب د قواوو له خوا ئی ملاتړ کیده او هم ئی د مجاهدینو د مرستی د رسولو په لیاره کی ماینونه ښخ کړی وه چه د ګوریك په سیمه کی دعربی مجاهرینو ورونو یو ګاډی منفجر او دوه تنه پکی شهیدان او یو شمیر ټپیان شول، دنورو شهیدانو او ټپیانو خبرونه هم رارسیدلی چه په اینده کی به ئی نشر ته وسپارو.(إنا لله وإنا إلیه راجعون)

جنګ تر اوسه په کلکه روان دی او مؤمن مجاهدین په کلك عزم او قوی ایمان د ملحدینو او منافقینو په مخ کی په زغرده خپل مقاومت ته دوام ورکوی او په دی عقیده لری چه واقعاً الله تعالی دمؤمنانو او متقیانو ملګری دی.

دننګرهار د شمال ختیځی حوزی دلمړی لیکی دقوماندانانو دشوری له خوا

راغلی لیکونه



راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه
راغلی لیکونه

(١)

د«دعوت» دمجلی محترم مدیر او نورو کار کوونکو ورونو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ؛

د«دعوت» مجله مو مطالعه کړه، له مطالعی څخه ئی مستفید شوو، زمونږ لاندینی پیشنهادات دی، امید دی چه په راتلونکو مجلو کی ئی په نظر کی ولری :

١- دجهاد خبرونه نشروئ.

٢- داسلامی نړی خبرونه مه هیروئ.

٣- دکنړونو داسلامي امارت په خبرونو باندی ترکیز وکړئ.

سربیره پردی د«دعوت» دمجلی دلوستلو شایقین، الحمد لله ډیر زیات دی، دوست او دښمن دواړه ئی مطالعه کوی، هیله ده چه په ډیر شمیر ئی ټولو ځایونو خصوصاً کیمپونو ته ورسوئ، روغ او بریالی اوسئ. والسلام

ستاسو مخلص : نذیرالرحمان - صوابی

* * * * *

ځواب :

دصوابی دکیمپ ورور نذیر الرحمان صاحبه :

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ؛

وروره ! لیک دې را ورسید، دنیکو احساساتو مو مننه کوو، الله تعالی دی اجر درکړی چه تاسو زمونږ پاملرنه اهمو مسائلو ته اړولی دی. ستاسو پیشنهادونه دقدر وړ دی او انشاء الله چه عمل به پرې وشی، د آینده لپاره خپل پیشنهادات جاری وساتی.

(اداره)

(۲)

د«دعوت» دمجلی کارکوُنکو ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

دسلام او احترام له وړاندی کولو نه وروسته زمونږ نیکی هیلی ومنئ. له څه مودې وقفې نه وروسته مو د«دعوت» دمجلی په کتنه، زړونه ښه او سترګی مو خوږی شوی، باور وکړی چه د«دعوت» مجلی دافغانستان دجهاد په دوران کی اصلی او ګټوری کارنامی سرته رسولی دی چه هغه په صحیح معنی داسلامي دعوت نشرول او خپرول دی. ډیری مجلی دمختلفو مؤسسو، ګوندونو او جهادی مرکزونو له خوا خپریږی، خو په خواشینی سره باید ووایو چه دغه نشریات یوازی او یوازی دګوندی مصالحو ترجمانی کوی او بس. دافغانستان دخاوری په یوه برخه کی داسلامی حکومت په قیام مو زړونه ټکور شول او دټولی اسلامي نړی لپاره قلبی او روحی ډاډ حاصل شوی دی، اسلامي حکومت واقعاً دټولو سرښندنو، تکلیفونو او ربړونو یوازنی مقصد او د اسلامي جهاد یوازنی هدف دی، زمونږ په لکونو شهیدانو د همدغه الهی نعمت (اسلامي نظام) دحصول لپاره خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړی، الله تعالی دې دهغوئ شهادت قبول کړی او الله تعالی دې په ټول ملك کی داډول اسلامي حکومت قائم کړی چه الهی احکام تطبیق کړی.

والسلام.

ستاسو ورونه : په اروپاکی دافغانانو اسلامي ټولنه

(جرمنی)

ځواب :

په اروپاکی دافغانانو داسلامي ټولنی کار کوونکو ورونو !

سلامونو ته مو وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته !

ستاسو نیك او له محبت نه ډك لیك را ورسید، له لوستلو څخه ئی خوښ شوو، داچه د «دعوت» دمجلی په بیا نشریدلو مو خوښی څرګنده کړی، دا له اسلامي دعوت او جهاد سره ستاسو د اخلاص څرګندویه ده، الله تعالی دې اجر درکړي.

داسلامي امارت په اړوند مو نظر دقدر وړدی، واقعاً دافغانستان داسلامي جهاد اوله یو نیم میلیون نه دزیاتو شهیدانو او دکونډو رنډو، یتیمانو او در په درو مهاجرینو هدف او مقصد، داسلامي امارت عملی تمثیل او تشکیل دی چه دغه اداره دافغانستان د جهاد دبنیان ګذار په مخلصانه هلو ځلو تأسیس شوی ده، دآینده لپاره خپله خطی رابطه ژوندی وساتئ. (اداره)

(٣)

محترم دپښتو د«دعوت» مجلی سر محرر صاحب :

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ؛

له هر څه نه مخکی د «دعوت» دمجلی په کامیابی او ترقی تاسو ټولوته دزړه له کومی مبارکی وایم، رب العزت مو د«دعوت» په کار کی موفق او بریالی لره، د«دعوت» دمجلی مضامین چه لولم، ډیر خوند تري اخلم، ځکه چه په مضامینو کی ئی زیاتی دینی لارښودنی نغښتی وی.

ورونو ! زما پیشنهاد دادی چه ددعوت دمجلی د لا ښایست او ښکلا لپاره نور هم خپل کوششونه زیات کړئ، نورمو په پاك الله سپارم، بریالی اوسئ.

والسلام ستاسو ورورسعدالله «المحمدی» دجلوزو له کیمپ څخه

ځواب :

دجلوزو دکیمپ سعدالله «المحمدی» وروره !

سلامونو ته مو وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ؛

ستاسو ښکلی او پر محتوی لیك را ورسید، په لوستلو ئی خوشحاله شوو، د«دعوت» دمجلی کارکونکی ستاسو دنیکو احساساتو مننه کوی. دمجلی دلا بریالیتوب لپاره ستاسو نیکی هیلی او ښه پیشنهادونه دقدر وړدی، انشاء الله هڅه کوو چه دمجلی محتوی ستاسو او د نورو لوستونکو له ذوق سره سم تهیه، ترتیب او تنظیم کړو، دلیکونو رابطه جاری ساتئ بریالی اوسئ. (اداره)

مجاهده وروره ! په ډاګه وایو : چه په افغانستان کی د حکومت دجوړښت حق نه له امریکا سره شته او نه له روسانو سره او نه له نورو طاغوتی او له الله تعالی نه له باغی او سرکشوقوتونو سره ددی حق شته چه زمونږ دمسلمان ملت سرنوشت وټاکی او یایی نماینده ګی وکړی. (دالشیخ جمیل الرحمن رحمه الله له ویناؤ څخه)

ارشاد نبوی

عن ابي هريرة رضي الله عنه، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (ما تعدون الشهداء فيكم؟ قالوا : يا رسول الله من قتل في سبيل الله، فهو شهيد. قال : (إنّ شهداء أمتي إذاً لقليل!) قالوا : فمن هم يا رسول الله؟ قال :(من قتل في سبيل الله فهو شهيد، ومن مات في سبيل الله فهو شهيد، ومن مات في الطاعون فهو شهيد، ومن مات في البطن فهو شهيد، والغريق شهيد) (رواه مسلم).

ترجمه :

از ابو هریره رضي الله عنه روایت است که :

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: در میان تان کدام را شهید می شمارید؟ گفتند یا رسول الله فقط آنکه در راه خدا کشته شود، شهید است. فرمود : اگر اینطور باشد پس شهدای امتم کم میباشند- گفتند پس کیانند یا رسول الله ؟ فرمود: آنکه در راه خدا کشته شود شهیداست وآنکه در راه خدا بمیرد شهید است وآن که از مرض طاعون بمیرد شهید است وآنکه از مرض اسهال بمیرد شهید است و آنکه غرق شود شهید است.

دکونړونو دقوماندانانو په نوم د الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) وروستی لیک

IMARATES ISLAMIC
Coner - Afghanistan
Al-Mujahid Guest - House
Islam Abad

بسم الله الرحمن الرحيم

الإمارة الإسلامية
ولاية كنر - أفغانستان
بيت ضيافة المجاهد
إسلام آباد

(۱)

دکونړونو د ولایت مشرانو او مجاهدینو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؛

دکونړونو ولایت په حدودو ددری ورځو راهیسی دهر طرفه داجانبو او مفسدینو یرغل جریان لری. پرون ورځ ۲۲/۸/۹۱ دلغمان او ننگرهار څخه بی شماره اجرتی جنگجویان دکونړونو په حدودو کی را داخل شویدی او حالاً دکونړونو دخلکو دعزت او ثروت په لوټولو مشغول دی. نو پدی بناء دا ځمونږه دینی او وجدانی فریضه ده چه دقربانی میدان ته راووځو او دخپل پت ساتنه وکړو. (والسلام)

الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

(۲)

داسلامی امارت قوماندانانو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته:

ستاسو موفقیت او سالمتیا دالله تعالی څخه غواړو الله تعالی مو موفق لره غزتمندو داچه دبعضی کسانو دخیانت په خاطر غله او کوتاه طریق لږ څه مخ ته لاړل باید حوصله دلاسه ورنکړو،مونږه په حق یو، ضرور انشاء الله غلبه دحق په برخه ده نا امیدی او بزدلی او ویره دمجاهد حق صفت ندی.،تصمیم مضبوط ولرئ دا دالله تعالی امتحان دی مونږ آزمائی چه ځومره صبر کولی شو او تر کومه اندازه پر حق مضبوط یو یوازی دغلبی په حالت کی او که دشکست او ماتی په حالت کی هم حق دلاسه نه ورکوو. انشاء الله ضرور به عاقبت زمونږ کامیابی وی .(والسلام)

الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)